سبابه بياکدې باريزي

لنډ داستانونه

عصمت قانع

سبابه یاکدی

باریزی

PROPERTY OF
ACKU
1936

لندداستانونه

عصمت قانع

دکتاب نوم : سبا به بیا کډې باریزی

لیکوال : عصمت «قانع»

نیټه : د ۱۳۶۹ لمریز کال ، لړم میاشت

شمیر : ۲۰۰۰ توکه

خپرونکی : دافغانستان اسلامی جمعیت

دلیکوالواو ویناوالوټولنه

اهداء

خپلزوی ندا محمد

اودده همزولي نسل ته

چې د سباني افغانستان مستقبل ورته

سترګې په لاردی .

عصمت قانع

دلرم پنجمه / ۱۳۶۷ - کوته ګیچی بیګ

بسم الله الرحمن الرحيم

پیش نامه

د قومونو په هلوځلوکښې لیکوال هم خپل یو کردار لري - نمونې خواؤ شاوس دغه وخت په افغانستان دیو بهرنۍ طاقت د فوځي جارحیت اقدام د ټولو نړیوالو سیاسي واقعه ده او د دغه هیواد آزادي ته لویه خطره ده - ولې د خپلو تاریخي روایاتو او آزادۍ بیرغ په هر حال د وچت ساتلو د مقدسې فریضې له مخه افغانان چې لکیا دي د خپل دشمن سره د جنګ ننګ او ناموس په میدان د ایمان پرجذبه کوچې توره یې وهي - هغه کړۍ یو خواد افغانستان د آزادۍ او خود مختارۍ ضمانت دے ، نو بل خواد افغانانو د تاریخي روایاتو هغه اثرات دي چې د غزا د هر غازي د توري په خړپ اوغلیم په سر د کوزار په وخت د غازي یا نود نظري غضب په شکل هر خواهم محسوسیږي او هم لیدل کیږي .

د غه شان د لیکوالو احساسات او جذبات هم د هغو د هنونو په سمندر د چپو هسې بېقراره او مقصدتر کنارو د رسېدلو د پاره شپه او ورځ متحرک دي -

د غو لیکوالو کښې ښاغلے عصمت قانع هم شامل دے، چې
د مهاجرو په قافله کښې د پښور څخه خپلو انصارو عزیزانو
میلمه دے او ډیر فعاله کردار یې د افغانستان د
آزادۍ د جنګ څنګ واقعات او مشاهدات د افسانو په
شکل قلمبند کړه، چې هم ادب دے او هم تاریخ.

د ښاغلي قانع هسې د پرښه ښه اولوړ پایه لیکوال او شاعر ان
هم د کوم ډیر پښتو ښخوالو سنګر لکیا دی د بره پښتو ښخوا
د آزادۍ د پاره قلمي جهاد کوی، د غو کښې د اکثر ولیکوالو
خصوصاً د شاعرانو قلمي کردار د افغانی روایاتو او
فطرت سره هغه هومره نزدې سمون نه خوري، لکه
چې پکار دے. ځکه چې یو خوا د دشمن د فوځونو په
د پرلږ شمیر او مقابلتاً په کمزورې وسله خو د ایمان
په قوت او جذبه د موجوده دور د یولوې طاقت ډلویو
د دلو او جدید و وسلو سره داسې په میړانه جنګیږي،
چې د الوې دشمن او د ده سنګینه او جدیده وسله وړته
د سره هډو خسنې نه ښکاري، بلکې د آزادۍ د شمعې
د رنا د حصول په خواهش د منزل په لار د غلیم فوځ
تدارکونه او خندان لکیا دی د سپاهوا روی چې

پښتانه هم ورته ګته په خله دی ، نو داسې حالا نو کښې د خپلو غازیانو د فعالیتونو له مخه باید دا لیکوال اوشاعران خپلو فن پاروا وشهپاروکښې په ځانګ د غازیانو په شهادت د شاه ، انګولا ، فریادونو او ویرونو وویاړ پورې او قوم ته د احساس ورکړی چې د پامیر ، سپین غر ، جګ دلک سالنګ او هندوکش شاهینان به خپل د بنکار پسې په غروني او غونډو کې زیدلې دد شمن فوځونو لکه دمیږو وزرې وکړې او لکه د سروکونترو د سیلونو دوی په جالو وهې پښې شول ، چې د دوی د سر او ویښو ، سرو جذبو او پرواز کښې د کرکې او تندې موجب شول .

خو دا بنډه د چې د بناغلي قانع په افسانو کښې دا فکر په هغه شدت او انداز نه محسوسیږی لکه د اکثرو افغانانو او په تیره تیره لکه چې د ذکر وشو شاعرانو افکارو کښې محسوسیږی .

پښتو کښې د افسانې فن تر کمه او خصوصاً بیره پښتو ښوا کښې د پیره کمه توجه شوې ده . د محترم موسی شفیق د "عبقریان" (پښتو فارسی افسانو مجموعه) نه علاوه لا د کوم بل افغان د پښتو افسانو مجموعه نه ده

شائع شوې - البته داسې اورم چې دښاغلی اکبر د افسانو
یوه مجموعه د "سیپۍ" په نامه چاپ دپاره تیاره ده - -
هسې خو ې وړې د کتو په شهر مختلفو مجلو ا و
ورځپاڼو کښې څۀ افسانې نامالـه نظره تیرې
شوې دی - دَ برې پسنتو نخوا په پسنتو افسانو کښې د
ښاغلی قانع د افسانو دا مجموعه لوې غنیمت دے
حُنې افسانې باوجود د فنی نیمګړتیاؤ بیا هم د
افسانې د صنف په لوړ یو اهم قدم دے - اوحُنې د انداز
بیان اوانجام له څه ډېرې بنې افسانې دی خصوصاً
د "قمیص قبر" ، "غوښه" ، "سبا بیا کله ې باران پرې"
او "هغه هم تر انه نومیده" ډیرې پرتاثیره افسانې
دی - د غو افسانو کښې "د شاعر ویر" د ادب
لطیف یوه بهترینه فنپاره اوعالمی ادب شهکار دے او
خپل د غه شاهکار کښې چې ښاغلی عصمت قانع د خپل
ملک اوملت په موجوده حالا تو د دنیا شاعرانو نه تر دخطاب
کوم انداز خپل کړے دے هغه مؤثر هم دے
اومؤقر هم .

همېش خلیل

پېښور ۲۵ نومبر ۱۹۸۸ء

مقدمه

وائي ادب د يوه قام د تصوراتو او کړنو هنداره ده ، که غواړو يو قام وپيژنو ترهرڅه مخکښ يې له ادبي پانګې نه ترا پيژندلې شو ، ځکه خو شاعر او ليکوال ته د قام ژبه وئيلی شي او د ملّت ترجمان .

شاعر او ليکوال چه هرڅای وی د مشاهدې نظر ځـــ هغه څه وينی او ګوری ځ شعور په غوږو هغه څه اوري چه د متمدنې نړۍ سائنس تخنيکی وسائيل او مادی پرمختګونه له هغو پاتې راغلي دي . هغه د شعور په غوږو دسينې د ننه هغه پټ زګيروی او ويرژلی ساندې او په مرګه کښې غوښته ګيلې ، هيلې او فريادونه اوري چه د تخنيک مادي غوږونه پرې کا نه دي .

د يوه مظلوم ، يوه يتيم ، ، يوې کونډې او بورې په اوښلنو سترګو کښې د هغه د زړه بوږنوونکی وګيراومن ژوند هغه ترخه او تراژيکه کيسه ګوری او مطالعه کوی چه د مکروسکوپ په عدسيو کښې نشي ځائيدلی . د زړه د ننه هغه پټ دردونه او د سينې په تناره کښې هغه ژبغړانده لمبې وينې چه د ماشينې حساب سرلانه دی پرې خلاص

شوی . هغه که یوچ خواته دیوه مظلوم، بی کسه،
بې وسه ځورېدلې او تنزیدلی سړی یوځای هغه
دردونه او ویرونه ژاړي نو بل پلو د ظالم پاسته ګرېوان
ته د مظلوم د زیږولاسونو په اوږدولو د خوښت چیغه
پورته کوی چه دغه هرڅه داحساس په ژبه د کاغذ
په مخ د تورواو کرښو په چوکاټ کښې داسې را کاږی
لکه دانسان د خیرې رنګین تصویرچه هر رنګ پکښې
خپله بنه بنه څرګنده بنیئ .

هو! لیکوال اوشاعر ژور لیدونکی وی هغه
د زړه اوسرسترګې هروخت پرانیستې وي . د ژوند هرې
لحظې او هرټکی ته په غورا و فکر ګوري اوداسې هر
اړخ په خیال اوحافظه کښې ساتی او دغسې د ژوند نه
د ښه ېبلا ېبل اړخونه اویادونه په یوه لطیف اواغیزمن
انداز اوبنه انځوروي .

ګران قانع هم دانقلاب د ویاړمنو سنګرونو انقلابي
وینا وال او لیکوال دی چه وخت په وخت د خپل فن
په لمن کښې د خپل مجاهد ولس قهرماني اومظلومیت
سرښندلې او حماسې تیټکا را وولوي اوددغه بې

سیاله مقاومت مختلفې صحنې را نغاړي او دغه رښتینې
تا وجنو ، ستغوا وترخو حقایقو او واقعیتونو ته کله د
شعرا وکله دافسانې جامې وراغوندي .

دا د قانع صاحب د افسانو لومړۍ مجموعه ده . دغه
افسانې که په فني او تخنیکي لحاظ هرڅنګه وی ،
خو زمونږ د قهرمان او مظلوم ملّت د روان ویاړلي خوځښت
او مقاومت مختلف زړه برېښوونکي او پارو ونکي اړخونه
پکښې منعکس شوی دي . او د لوستونکو ستر ګو ته
د هېواد وران کلي او کوروونه د مقاومت ځوښېدلي لې
سنګرونه د بمبارۍ لمبې او د اورونو وینو او ویرونو سره
لوړی افغانستان ځلوی ، د هجرت او پردیسۍ سپېرو څېړو
او کمپونې ګرځوي . د د فترونو په سره او کړکېچنه رویه
ئې خبروي د شهید له پرهرونو د زخمي له تېښو نو د یتیم
له اسرو د کونډو او بورولې کوتل شویو رمانو او په
لنډو ټکو زمونږ د ټولنې او انقلاب مسلط ښکېلې
هنکامې .

په مجموعې توګه د قانع صاحب فن له طبقاتي
ژوند سره په تضاد او جګړه کښې دی د دوي فن

د محرومو پرکنوا او د عوامو د پلوۍ په کربنه د خواصو
او زردارانو د مظالمو او د ځان پرسونو په مخالفت کښې
سر را پورته کړی او ځوان شوی دی .

د همدغه مسلّطې طبقاتي فضاء له لاسه قانع
صاحب د یتیمې ځپېرې خوږلي له پنځه کلنۍ ښځ د
لوڅې ، تندې مزدورۍ او نورو ستونزو او کړاوونو
سره تندی ټکېدلی ځکه خوښ نن نظم او نشرله یوې خوا
د خپل مؤمن او توره په لاس ولس له برحقې معرکې
او روسي وحشت مختلف ډرونه انځوروي نود بلې خوا
له طبقاتي تضاد سره په دغروهم خپل زور قشوي .

د اسلامي انقلاب د ادبي بنې د لاسمسرتیا اود
ګران افغانستان د شپږې آزادۍ په هیله د اتا سې
اود د قانع صاحب د افسانو (۷۸۶) - په مینه
اسلام بریالی دی
ننګیال - ۱۳۶۴/۱۱/۲۲ - بورډ

خپلی خبری

انسانی ژوند د پائښت په نیت د کړاوونو ، ربړونو هڅواو تکلونو بهیردی . انسان دخپل ژوندانه ، اجتماع اوچاپیریال ددوام او لا بنه کیدو په خاطر هڅه کوي اودغه هڅه بئ دمړک ترسلګی پورې مداومه اومستمره ده !

دیوه انسان په صفت کله چې مې خپل محیط پېژندلی او دخپل وطن انسان مې پېژندلی هڅه مې کړېده د تکلونو بهیر اود منډو تر پرو یوه لړۍ مې پیل کړې ده اودالړۍ روانه ده ! زما هڅو اوتکلونو هغه وخت ځان ته یو معلوم جهت پیدا کړ چې وطن اود وطن انسان مې د هستۍ اودوام پر ډګر د یوه نارواتجاوز په وجه د نابودۍ اونیستۍ له ګواښ سره مخامخ شو.

له همداغه وخته راپه دې خوا لس کاله تېرېږي ، په لسو کلونو کښې ګروهمن شوی یم چې زما د ژوند هڅې دیوه مقدس

هدف تر پلاټ فورم لاندې تسلسل لري ما د هدف په لاركښې له ځان سره د قلم او ټوپک دواړه وسيلې اخيستې دي خو د اچې د ټوپک وسيله زمونږ د دښمن د مقابلې لپاره مناسبه وسيله ده نو زما قلم طبعاً دومره كار ونه كړ .

ځكه چې بې ثقافته ، بې فرهنګه اووحشي دښمن انساني منطق نه پېژني . په هرصورت دا زما يوبل منثور اثر دی ، شهرت صاحب ته د افسانې بولې خو زما په نظر نثر ونه دي چې فني چوكاټونه نشم ورته مشخصولاى په دې ليكنو كښې ما « بيابانې قهرمان » اوخپل خپلوان مې مړه شول ، دوه نثرونه دلبنان د خلكو د درد مند زړی جبران له ليكنو په پښتو كړي دي .

د دې اثر په راټولولو كښې له خپل ګران استاد او خواخوږي دوست محترم هاشمي صاحب د نېكې لورينې منت بار يم اود خط د فن پياوړي هنرمند بنوري صاحب ترهم كوروداني وايم .

« قانع »

ميزان / ۱۳٦۲ ، كوټه كيچې بيګ

د لیکوال لنډه پېژندنه

عیسی محمد «عصمت قانع» دارواښاد اخترمحمد خان سلیمان خیل زوی په ۱۳٤۰ هـ.ش کال کې دزابل ولایت دشاجوی په کلاخیلوکی زیږیدلی دی .

لومړنی اومنځنی زده کړه یې دزابل دهوتک بابایه لیسه کی سرته رسولی ده .

اودیوی لنډی موډی لپاره یې دکابل دپولیسوپه اکادمی کی لوست کړی دی.«قانع» دجهاد پېژندل شوی شاعراولیکوال دی دده دلنډوکیسواوشعرونوډیری نمونی چاپ شوی دی .

چاپ شوی آثاریې دادی :

۱- دوینوسوغات - شعری مجموعه

۲- دپلوشوډالی - شعری مجموعه

۳- جرس - شعری مجموعه

٤- سبابه بیاکلې باریزی - « لنډداستانونه »

٥- شرط - « لنډداستانونه »

٦- پښتولنډی - « تحقیقی مقالی »

تحریکی

د هغه اصلي نوم حاجی ګل محمد دی . خو مونږ
ئې حاجی ګلو اکا بولو - خورا " یارباش " او
خنده رویه سپین زیری دی ترش تندی او کیچه څېره
ئې بده ایسي .

دی همېش راته وایئ چه انسان باید په هر
لوړ حالت کښې هم خپل حواس ونه بایلی زما او حاجی
ګلو اکا راشه درشه د ډیر څلور کاله سابقه لري
حاجی اکا چه نوې اوتازه خبره واوري ترما پورې ئې
ضرور رارسوي دا ځل چه ئې نوې اوتازه پښه
لیدلی وه ماته ئې د هغې جریان د خندا له بدرګې سره
یوځای وراندې کړ . هغه بله ورځ ئې چه زه . د
ناصرباغ د ویالې په غاړه ولیدم شین شروئ خندل
په جینګړه خوله کښې ئې سراري داړې له ورایه
معلومې شوې . خندا ئې پسې اوزده شوه، غږ ګډ شوه

زه حیران دریان ورته ودریدم
شا اوخوا چې وکتل ما ویل چه کنې حاجی اکا ما پورې
خاندي خوپه خپل چاپیریال کښې چې دا سې شی و نه
لیده چه د ګلو اکا د اوزدې خندا موجب دې
ګرځیدلی وي.

زه سروهلی بروهلی حیران دریان ورته ولاړ
وم. ګلو اکا بیا په خندا شوله دواړو ستړکو ئې
د ډېرې خندا په وجه مړې مړې اوښکې راوبهیدې.
اوس نو د ګلو اکا د خندا اوزد والی وګ او زما
د حیرت او تعجب زیاتوب! په وارخطا لهجه ورته
مخاطب شوم - آخر حاجی اکا دومره خندا هم وي
څه پېښه ده؟ څه چل دی؟ د هغه خندا لاپسې
اوزده شوه نه لاپسې حیران شوم. ما وی په خدایه
په دې حاجی چا کوډې کړې دي پېریانو نیولی دی
څه ئې کړې ده د څه بلا ورته مخه ده؟

ګلو اکا د اځل لږ په خود شو - په ستړکو ئې
لاس وینوا او بیا ئې د خپل پټکي د شملې پیڅکه پرې

ومونږله . اوراته شروع شو - په لږځه قهرامیز لهجه
ځُـــ په خبرو پیل وکړ چې به لاځه وی پښتنه به تـر
دې بله څه پښتنه وي . غرق شئ تاسې تحریکیانو او
انقلابیان سته موخدائے وباسه بیخ مرووځه تمامه
ورځ مودا انقلابی توب په چیغو ستونې ځیرې شي خوچه د
عمل میدان راشي نو بیا خو .....

ماژر ترې پوښتنه وکړه نوبیا خوځه ۹ کلوراکا
بیا وخندل - نو په زړه کښې غل شوم . زما اوس پوخ
یقین شوچه کلوراکا زما په گفتارا وکردارکښې څه غټ
خندنی تناقض لیدلی دی ځکه چه د تحریک او انقلاب دواړه
کلیمې خوږه زیاتی استعمالوم .

هغه بیا وخندل - ما بیا وپوښتلو - حاجی اکا څرچل
دی وایه ؟ اخر تر وهلو دې په ځغلولو ستړی کړم - دا
څه پښتنه ده چه ستا د خندا نوشادرېځـــ دومره
تاوده کړي دي ، هغه بیا په خبرو راغی ، چه د چـــل
تپرس کوې نو واوره - ماژر ورته وویل ښـه .

چه اتحـــاد ږنګ شو مونږ هم په دوه ډلوویشل
شو د آمرصاحب ډله یوې خواته شوه اودمعاون صاحب

ډله بلې خواته شوه دلته يو شمېر بلدې کوروانانو غوښتل چې له دواړو خواوشخه خپله وندې يوسي .

هغه د ملا متا خان زوی سيدوخان پېژني .

ماژر ورته وويل هوولې نه ـ ناسته پاسته ورسره لرم هغه هم تحريکي دی کلوا کا په قهرشو .

بيخ موروځه په دې تحريکي توب ـ دمفتی سنګر د ملا متاخان زوی سيدو پردواړو دسترخوانونو شخرندونه وهل آمرصاحب ته به ډډ وفاداري کاتي په سينه ټکول او معاونصاحب ته هم د هرمشر په مخکښې به ډډ تحريک بلکتې غږوله .

حتی تردې اندازې پورې چې د تحريکي کليمه ډډ تکيه کلام ګرځېدلې وه ده غوښتل چې په د واړو خواو کښې قدرولرې اود واړو دربارونه مقرب وي سهار به دلته وُ مابنام به هلته د غرمې کچالان به ډډ مونږ سره خوړل اود مابنام پلاوبه ډډ له دوي سره .

د سيدوخان له دوه مخې اودوه رنګې څخه آمرصاحب هم ناخبره وُ ا ومعاونصاحب هم .

څومره مخکښې معاونصاحب حج ته روان وُ .

زه ښځې وروغوښتم راته ښې وویل ورشه د ملا
اکا زوی سپید و راوله زما مخلص دی او بیا تحریکی
او انقلابی هم دی. زه هم ورغلم راښې وست،
د موټر د مخ په سیټ کښې را سره کښیناست چې له
حاجی کیمپ څخه تیرشو د تحریک ټکټئ راته سرکړه
له هرې خبرې سره ښځې تحریک او انقلاب ترلی
ؤ. د حسن ابدال سره د موټر مخ ته یوه هندوستانئ
وزه ناڅاپه په واټ راښکاره شوه ما ژر بریک ووا هه
سپید و پورته وغورځیده په قهرشو ستړکې ښې رډې
رډې را وکښې راته ښځې وویل یو تحریکی ډریور
دا سې نه وي ته باید د تحریک اصول او قواعد رعایت
کړې، ته په یو تحریک کښې ډریور ښځې نه په یوه
ظاهرشاهي ژیم کښې ما ورته وویل خیردی وزه
ناڅاپه راغله که مې وزه وهلې وای بیا به دې
هم راته .....

کلوا کا بیا وخندل او یوه لحظه چوپ شو. ما
ژر ورته وویل نو بیا ؟ هغه جواب را کړ. نو بیا
مړی چې خدائ شرموي نو پرې تاری به ښځې .....

چه اسلام آباد ته ورسېدو ، یو ساعت به نه وۍ
کښېنا ستلي چه دآمرصاحب موټرهم راغۍ دآمر
صاحب راتګ وۍ اودسېدو وارخطائۍ نه ټې
شاته کتل نه ټې مخ ته مخامخ ټې منډه کړه
په تشناب ننوت ماوی چه هسې نا ببره د پیچ
کرمه دسته پې ونښته خرهسې نه وۍ لس
دولس دقیقې په تشناب کښې وۍ. پاو وخت په نیم ساعت
اونیم ساعت په یوه ساعت یوساعت په یونیم ساعت
بدل شوله یونیم ساعت وروسته ، سېدودوغه زونه
د تشناب له دروازې څخه ځکۍ ونیول اوماته ټې اشاره
وکړه ماوی چه مانه به د پیچ کوم تا بلېت ما بلېت
غواړي خرهغه په وارخطا لهجه راته وویل -
آمرصاحب شته که ولاړ ؟ ماورته وویل چه
شته راځه خوري خوبه دې نه . هغه ژرپه خوله
لاس راته ونیو زه وپوهېدم چه دسړی بنکړه دواړو
ترتګرو کښې بند دی او د بلدی ګروان غواړي
چه دواړه خیراتونه وخوري ، څه سردې کړم د
آمرصاحب ا ومعاونصاحب مجلس دوه درې ساعته

اوزد شو په ماکښې نور ترڼ نه شو پاتې . ورځلم آمرصاحب ته مې وويل چې هغه سيدو بيچاره ستاد لاسه په ټشناب کښې بندي دی . د آمرصاحب خرا شښه شوه يوښه ساعت چوپ ؤ ، وروسته ئې راته وويل ورشه راوبلځ ما سه زه خوانسان خرڅ نه يم . خودا اپريچر ئيست تاسې ته هم وفادار نشي پاتې کېدلاے ئاسې خبر يا ست چې دې سړي ما ته هم د خلوص برې په سينه وهلې دي .

آمرصاحب په خپله مخه ولاړ ، معاونصاحب د حج په خرا رهي شو سيدو له ما سره په الوتې څېرې پښورته راروان شو . ما بيا ورته وويل ـ نربيا؟ نربيا چې حسن ابدالته راورسيدو د ما خښتن د لانځه دپاره مومو تر ودراوه موټر مې هما غلته ودراوه په کوم ځای چې وزه مخ ته راغلې وه .

لمرنځ مو وکړا ودی مې هما لته پرېښود ما د موټر اکسلیټر ته لغته ټخته کړه ما ويل بچې دا دې سزا ده تحريکي دوه مخه نه لرې ته بايد د تحريک اصول رعايت کړې .

دکمیس قبر

د منې لومړنۍ شپې اورځې وې .

دسره غره سره باد ونو د ترنګ په شنه تاوه کښې ډیره
بې خونده اوډاروونکې انګرلاجوړه کړې وه .
چاډر مخ بوټو او ګړ ګړ اذوقه برابروله خوک هم د
ژړندې دغمره پاکولو برخت وُ د سهار سابه د باد
د تیزوالي د ومره زیات اوله حده تیروُ چه کلیوالو به
تر یاخه څابسته د سختې ګرمۍ دلاسه د تاوخانو
څخه بهر نشوندکۍ نشو بشورولاے .

نور کله به د کلي هلکان ټول ځای په ځای ووُ
د کلي سپین زیرو او عمر خوړلي بوډا ګانو ته به
د د ې حاجت نه پاتې کیده چه کلنګ اوپرې په
اوږه واخلي او غره ته په بوټو ژر لګرا وګرځي پسې ولاړ
شي . خر سبز کال د کلي هلکان ټول تیت او پرک ووُ
خوک د زیارکښانو د دولت ؟ !! د تصفیو په خوندې
مسلخ کښې د ژوند له صحنې څخه دابد لپاره شړل شوي

ړۀ اوځوک هم په جبلونزا وحبسونز کښې په زنځیراو زولنز کښې پیچلي پراته وۀ.

څرک د هجرت په سرګردان کاروان دیوه نامعلوم سرنوشت په لور کله ځوي وۀ اوچاهم د جهاد په میدان کښې د ولسي خلاصون توده جګړه پرمخ تېل وهله.

په کلي کښې د درخانۀ توپۀ یورزی نړۍ ایمل خان تیر کال لاد ترنګ هاغه بلې غاړې ته د غازیانو سره غزاته تللی وۀ اوبیا ئې څه درک خرک نه وۀ معلوم د خوارکۀ درخانۍ ترورکور د کلي په ټولو کورونو نرکښې بې سړیه اوبې کسه کوروۀ. په دې ترتیب درخانۀ ترور باید د ټولو نه مخکښې د بولتو داذوقې برابرولو بند وبست کړی وای ځکه لږیو طرفه دایمل د مرګ اوژوند درک نه وۀ معلوم اوله بل پلوه دایمل غبرګ زامن د جهازونو بمبارۀ سخت زخمیان کړي وۀ. د د درخانۀ توپۀ د فرمرد یله مخې باید دژمي اذوقه ژر برابره شي ما شومان باید ګرم وسائل شي ځکه د یخنۍ په وجه ټې ټپونه ګزګ

اخلي ـ که زخمونو بڼ ګرځ وکړ بيا نړۍ کور کښې
درمړه څه نشته چې د ماشومانو دارو درمل پرې وشي.
يواځې يوخرمنه دغره شښې ، شپږ اوه چرګې
اودوې کېږئ هګۍ وې چې کله کله به ئې د درخانې
تورې ئ د مفلسۍ او ناداريې تنده ماتولې هرمانبام چې به
تېريده ، اوهر شپې چې به خپل پراو د سهار تر افق پورې
رسېده د سدوخان معصومانه چيغو او بغاړو به ځواکې ئ
بردئ پرزړه يوخو تاوده داغونه نورهم ورزياتول او کله
چې به بيا د ايمل د اخبرو را په ياد شوه چې د ې زه ځم خو
ګوره چې ماشومان طيارې او جهازونه درڅخه تلف نه کړي.
هاروڼ او همايون مې اول په خدائ ې وبيا په تا سپارلي دي
شپږ خپل تور پرېږولې ورونه . په جرمات کښې
نه ملاوئ اونه کرم طالب کليوالو به تولږد سهار په
انتظار د کلبدين کاداذان په انتظار غوږونه څک
څک نيولي وئ . د ورځانئ تورې د شپې د اوزدو فکرونو
او چرتونو د ې نتيجې ته ورسيدلی وه چې بوتې او لرګي به
دانسره واسطه برابروي هغه څرچرګې او چرګان به
سباختماً ترتبغ تېروي او د پرونسز کال د لاندې د مېږه

غږيږي به هم ورسره ملګرې کوي شرد اشرياز شرنداز ن
يې غږ کړي . سهارچه د کلي په حرمات کښې
سپين زيرې په محلي پرستيز کښې پيغلې ناست وې
د درخانۍ تورۍ د اشر زغ وشر ټولو ورسره وملله
د کلي له هره کوره يو سړی او يو مرکب د اشر به کاروان
کښې غړه ته په بوټو پسې لاړل کاروان لاد دريږي
پيچرې نه وخلاص کړي چې په اسمان کښې د ديوه ويرجن
او بې خونده زغ اوازونه زمزمه شول د ډب له کونډ
څخه احوال را غځ چې روسانو د بې شميره ځانې ومالي
تلفاتو په ورکولو سره د ډب له کونډ څخه عقب نشيني
وکړه او د ښې په کنده کښې مجاهدينو د روسي تانکر
کاروان ته اور وراچولی دی . د ترنګ په کوزه ناوه کښې
هسې لوخړې پورته کيدې تا به ويل چې ټول کلات
اوراخيستی دی ورپسې بل خبر راغځ چې کليوال د ډې
خپل ماشومان اوزنانه په لغوټو او مغارو ننباسي خو د
د طيارو له هجوم څخه په امان پاتې شي او د کلي دې
درې درې کسه غړه ته د شهيدانو د ښخولو دپاره ولاړ
شي - د غرمې لس يرولس بجې به وې چې د درخانۍ تورۍ

دکلي د نورو سپين سرو نبځو د نصيحت له مخې ماشومان
د ملابنادي کړندی زيارت ته په دې خاطر بوتلل چې
په زخمونو ئې د زيارت خاوره وڅښي خو دا ډول څښل څرګند ډغ
ئې وته وهي د ويدرې واړه د زيارت په نړيدلي انګړ
کښې په ژړا او فرياد لوی خدای ته په زاريو ولاړ وو
چې په زيارت يو روسي هليکوپټر سينه ټيټه کړه
زخمي ماشومان هارون او همايون دواړه په ويښو کښې
ورغښتل .

هغه دوې نا سپړلې غوټې چې ايما او درخانی تورې
د خپلوا کئ د نهارپه نيت نا زولې خزان شولې .
هرکې : تور هارون او همايون د درخانیٔ تورې
په غېږ کښې نه وو . ماتم ليدلې بړۍ د دې
صحنې په ليدلو سره د وړې ځوړل څوډ تور صندوق
خيرن ګريوان ئې په اوښکو لوند خيشت شو سرې
په زوره زوره د زيارت له شنا ختو « لکړو » سره وواهه
خوڅه ئې کړې وای .
بې له دې چې منتقم او غچ اخيستونکي خدای ته د خپل
معصوميت او مظلوميت چيغې ووهي بله چاره نه وه .

بوډئ انا دماشومانو جسدونه ورسم کړل اوبیائې
خپل تور پوښتنې پرې وغوښتاوه .
په کاواکو قدمونو د کور په لور راروانه شوه .
کورته په رارسېدو د یوبل غم ژغ پرې وشوپه پرونئ
جګړه کښې ایمل توپ په کرلئ لګېدلی وو ـ په
سنګر کښې یواځې یوپه وینو سور کمیس ځینې پاتې
شوی وو .
درځانئ تورئ دایمل کمیس د ماشومانو د قبرونو تر
څنګ په یوبل قبر کښې ښخ کړ .

د غم دپاسه غم راپښې شو
لکه چې نوی غم په ورځ زوکړی یمه

مترقی خوشحمیره

خدائے خبرچې د مکې چارګل چا غلا کړې وو.
خو هغې په نظر د چارګل غل رحمدل ناظر وو
کله چې به د مکئ سترګې پر رحمدل ولګیدې لږ غوسې
به ټکه سره شوولا ندې شونډک به ېئ د پاسنې
ژامې ترغاښولاندې کړیو ساعت به ېئ په قهر
ورته وکتل او بیا به ېئ په پوچو پاشو شروع وکړه.
نمک حرامه، د سلو کلو وزې په سل کاله نه مړیږې
زهونږ په دستر خوان پاکیزې اوتشپږې - بله بنه دې
راونه رسیده بې غلا - څه چې له بیابانه غلا
کړې خوک دې مخه نه نیسي اوس دې دکور په غلا
هم شروع وکړه.
پلیته ودریږه چې شهباز راشي - ورته وایئم چې له
پوسته دې کړي - رحمدل خوارکې به لکه د خاورو
بُت چوپ ورته ولاړ وو هیڅ به ېئ هم نه شوای ورته
ویلای - نن د رحمدل شونډان هم سره خلاص

شول هغه بیچاره په ډېره عاجزئ ورته وویل !
مکئ - ته وایه زما پردې لویه دنیا څرک شته چه
چارځکل وربه پیژه کړم - مادې چارځکل نه دی وړی او
ولې به مې وړ ؟

د رحمدل داخبره په مکه د ټوپک د ټک پرځپر
بده ولګیده د غسوا روتف دانې ته لځ لاس کړ
تف دانې د رحمدل په تندي ولګیده په ځیګر
ئې لامده خیشته شرار د بهیدل زیره ئې تنګه
شښه شوه . د مکه په دې کارغوسه مهارته شوه
پې رامنډې کړې ، یوه زوروره ټپله ئې ورکړه اوله
دروازې ئې ووېست - مکه نه وه د سرو مچیو بنځه
وه . رحمدل ناظرځه کوې په کورکښې موراو پلار
هم سمه خبره نه سوای ورته ګرځی زیه ئې ټپره
بیایې وه چه یووارې په خبرو راغله بیا نړدا سې
څرک نه پیدا کیده چه د خبرو نوبت ځینې واخلي -
اتوبات به ژغېده .

یاره وه به داتلسو نولسو کلو . چاڼه نه سوای ورته
نیولاے - د مکئ همزولې په کلي کښې پرله پسې

ودېدلی - خرد مکې لپاره په دې نړۍ کلیر کښې هیڅ
هم ددوي کورته مرکه نه ورلېږله - مکې الګرګېدُ
هیڅ هم زړه نه سوائے ورته نیولی اوس نړیوه مسئله
لنډه غړه پیغله ځینې جوړه شوې وه . چې په
کلي کښې سپېڅه دریاو ډنګ شو مکې به بیاد
اتې په میدان کښې جنګه ولاړه وه ، غېږکې اوږې
به ټې اړولې هغې خپل پرچمي وروړله برکته څه عصري
اوچې برلې زده کړې وې او شپږ کاله ټې دبې بې خالا
په مکتب کښې سبق هم وئیلی وو .

پلارنۍ بنه درونډ سنګین د مرکو او جرګو
سپین زیری وو ، کورته ټې درلوده ډوډي مارو -
بنه موډیانه اجتماعي برخورد لرې درلوده د مال
جائیداد ټې هم څه کمی نه وو - په خبرو لوه سپری
وو - د خلکو تر منځ ټې د ښو روابطو د قائمولو په کار
کښې د نفوذ او شهرت ساحه نوره هم پراخه شوې
وه - له بدو لیرې وو - حرام خورنه وو - بنه ثقه
پښتون وو د رونډ او سنګین به کرګېدو په بنه صفا
سپینه زیره برسېره د عمل او کردار په لحاظ هم د

خلکو خوښېدو تولو ته ئې احترام کاوه خو امکې
د پلار په ښه کرکټر او نېک عمل هم نه تېریده او چا
زړه نه سړای وړته ښه کولاے - پخوانۍ ښه ویلی
دي - له بدو ښه زیږي له ښو ښه -

مکې د نېک پلار لوړه خو بېغایه غرور او تکبر په
وجه د پلار په نامه هم چا د خپل کولو نه ځینې
جوړوله . د خدای تعالیٰ شپې اوورځې تېرېږي د ټور
اږدو وږو جوړ شړ په ډېرو چپه اوبد مست باد ولګید
د ډېر پرسه ئې لیونی کړل او د پرلیونې پرسه . اووم
لمبر فرمان نافذ شو - ودونه دري سوه روپۍ شول -
اوس نو شپې وې چې په محمد شفیع وې .

محمد شفیع د کلي مست لنډ غږځوان وو په پرېوتو
اوږلاږ بدو نه وو بند شغل او کار ئې سک وانې وه
چې سهار به ئې سپی له کلي وویست ماخستن به کور
ته راتلو - د څرتنو خانزاده پرچمیانو د یارانې سابقه ئې
درلوده هسې خو پرچمیان قول سک وانان ، کرک بازان او
شطرنج بازان وو .

ده څوارلسم تاریخ او جدید ډېر لنګه په سپورغب

وې - اوس ېځ پلار لنګی هم ورته نه اخیسته - ځکه چه هغه به ېځ د سپرې غاړه کښې اچوله .
محمد شفیع کټ مټ د مکی په مزاج برابرو - د محمدشفیع ژبه هم مکی ته ورته وه او نورخوی اوبوی هم - ددوئه اوکوژدې وې چه د مکی او محمدشفیع روابط ېځ سره ټینګ کړي وؤ د دواړو یارانه شوه او وسې پخه شوه .
هسې خو د بازمحمد ملګ کورته له کار پرته اوبه رحمدل ناظر وړې خو اخر ورځې مکی د اوبو کار په غاړه اخیستی وؤ - په کورکښې به داوبو آبدانونه ډک پک وؤ خو مکی به منګی په اوږه کړاود محمد شفیع لپاره به څو ساعته په کور دولاړه وه .
یوه ورځ د محمد شفیع پلار ته چا وویل ، زوی دې د ملګ باز په لورګرم دی جرګه مرکه ورولېږه .
د محمدشفیع پلار په خندا ورته وویل ! زه ځې درځمه رهم تا مې سرنیولی دی - زه له محمد شفیع د یک او سِل یم ته یوبل محمد شفیع هم په غاړه کښې رااچوې .
د محمد شفیع اومکی واده د پښتنې فامیلی نظام دا صولونه خلاف د ثور د بغاوت داوم لمبرفرمان

پر بنیاد د کرهٔ باغ د ولسوال په مخکښې وشو ـ مکی او محمد شفیع سره کور او کهول شول ـ سهار وختي به محمد شفیع خپل تور جنګي سپی د مامتر خواته کش کړاو مکی به په کوڅه کښې لېکچر شروع کړ ـ لېکچر به نه وؤ چې لېکچر به وؤ ـ د کلي بنځو او کوچنیانو نه به ډک رقم رقم پېغورونه ورکول ـ مکی له خپل پرچمی ورور شهباز څخه په اصطلاح ځینې مترقي اصطلاحات هم زده کړي وؤ .

د مکی روابط ارعلائیت د کرله خپلوانو، خپسانو اودوستانو څخه غرخ شول هغې ته لولوته پېغورونه ورکول ـ ستړو نکرمېرمنو ته به ډډ بورڅوا عاملین ویلی .

د کلي عادي مېرمنې لا دومره تري په عذاب نه وې لکه د کلي مورا تورېږؤ ـ مکی به مورا تورې ته دتورې ارتجاع په نوم خطاب کاوه په هرمجلس کښې به ډډ لکه سره مچمچی په خرله پورې نښتې وه یره ورځ په کلي کښې د چا زوی مړ کړی وؤ مورا تورې به ډډ هم لېښې ته وروغورښتې وه ـ تصادفاً مکی هم مجلس ته

ورغله ـ مورا توړې د نو تولده ماشوم مورته د
نصیحت په ژبه وویل چه پرزوی دې کتابی نوم کیږده .
مکئ دګوګوله خرا پرې راوغورځیده ـ کینه د توړې
ارتجاع بوډې اوس د بورژوا اوخورده بورژوانومرنه
د تاریخ څرخ د عدم په شپلرکښې بنخ کړي دي . سم
مترقي او کارګري نومرد دې پرې کیږدي .

مورا توړې هکه پکه ورته ودریده
مکه مترقي نوم بیا څنګه وي ؟
مکئ ! ولې نه پټرني د دین کیسې خردې بنې زده دي .
مترقي نومونه ـ لکه چرف ، اوستینوف، روانوف
او ..... د مکې دا شپږمه میاشت وه چه د نعرې
په د موکراتیک سازمان کښې شامله شوې وه . میرې
ئې د انقلاب د دفاع د کمیټې غړې ور ـ د دې دپسرادئ
په کورس کښې معلمه کوله د وورو په واسطه ئې
د پرغټ غټ کارونه سرته رسول .

د ۱۳۵۹ کال د جوزا د ریمه لسیزه هم په ختمیدو
وه بازمحمد اکاکه کمردین ته راورلې د کلي
خلک تول د بلا انقطاع بمبارید لامسه مهاجرښې روئ .

رحمدل ناظر اوسۍ مرکز د جبهې یوتکړه سرکروپ
وۍ - درې خلور پوړه د کارتوسو یخ پخ بندبه ئې
ترلې وۍ . ویښتان ئې په اوزو پراته وۍ - په
کمیس ئې شپږاوه شله کل میخې تک وهلې وې د سره
بخمل کړه باغی واسکټ به ئې اغوستی وۍ .

اوس نو د رحمدل خبرې خرښئ وې " مه
غځله پرکاړه خدای به ئې درکړي پرکاړه " رحمدل
ته خدائ په کاړه ورکړه . د سرکروپلې نه قوماندانه
ته جګ شو په ټوله منطقه ئې سرچپه امرونه چلول
لکه د سقاؤ زوی حبیب الله پرځان ئې خادم دین
نرم کښود . خو دې سره سره په چرسو هم عادي وۍ
ده به ویل چه چرسیان د خدائ دوستان دي چرد
چلم سرخانه به ئې له چرسو د که کړه په زوره به
ئې وترخل له ګوګله به ئې چارک کړل راجلا
شو - چینه به ئې کړه مونږ ئې وهو چه نه ئې
وهي ګناه ئې د هغوپه غاړه .

مازیګر لا لمر د غرو شاته نه وۍ غوټه شوے
قوه د ترکاڼ پرغړو راوخوځیدله د تانګرو غږ هسار

شو د طیارو غږمبهار اوورسره دماشینګنږ ټکهار-
له شا اوخوا مجاهدین پرې راګرزشول - بریدونه
ېئ سره شخ کړل د شپې تاریکئ له مجاهدینو
سره کومک وکړ. نیمه ګړۍ وتښتیده نیمه تارومار
شوه اویوڅه عسکرهم د مجاهدینو په لاس و نیول
شول - دمکئ اومحمد شفیع نوم هم دنیول شوو
کسانو په لست کښې لومړنۍ کښیده. مکې درحمدل د
ګروپ مجاهدینو نیولی وه. زه ورته ولاړوُم چه رحمدل
مکې د بندیانو له سرایه راوویسته.

رحمدل ګوره مکې زه نمک حرامه نه یم ماسټا د
پلار نمک خوړلی دی مونږ که هرڅوک بولې خو
د خلکو د ناموس په خاطر جنګیږو اواحترام ېئ کوو.
که اوس دې پلارته سرورکړم په لاسو به مې مچ کړي
خو ژړنم دې نه - ملک کاکا په کمردین کښې دی ځه
اوس د ملا کاکا کره ولاړه شه ترڅوچه دملک کاکا
حال احوال ستاپه هکله رارسیږي ترهغو بندیه ېئ
ښورې به نه. محمد شفیع همدا اوس د مترقي جهان
خواته لیږم ویزه اوپاسپورټ ېئ تیاردی فقط د

دعزرائیل صاحب امضاء غواړي .

مکې ېځ دملا کاکړه ولېږله مورا توړئ سم د لاسه ډوډۍ ورته کېښوده - دمکې اشتها بنده وه . مورا توړئ ژړ په مسکېدلې خوله ورته وویل! خوړه زویه خوړه ېځ دا مترقي خوش خمیره ده ستاخو مترقي خوش خمیره خوښه ده - مورا توړئ خوش خمیره د رسي کاروان له غنیمتي اوږو څخه پخه کړې وه .

آخرۍ سپارښتې

هیڅوا هم فکر نه کاوه چه لونګ به ځلمی شي .
هغه لا په وړوکتوب کښې د حادثو توفانونه لیدل ، د
فاجعو په څېر کښې رغښتاو د مصیبتونو له چپاوړ سره
لاس او ګرېوان وړ .
د هغه د ژوند هره ورځ دیوې حادثې شاهده
وه . هغه هره ورځ د مرګ له تورې بلا سره مخامخ وړ
خو د هغه نه مړینه د خدای اراده وه .
لونګ په وړوکتوب کښې په یواځې سر د ژوند دستونزو ،
کړاوونو ، وبړونو او تکلیفونو درانده پیټي په اوږو
واخیستل . هغه لا څلور کلن وو چه پلار یې د خان کاکا
له حکم څخه د سرغړونې په تور د خیرکل ناظر په لاس
ووژل شو .
څلور کلن لونګ په یواځې سر د پلار په مېنه پاتې
شو - هغه اوس ځوان وړ د ژوند شپارس پسرلي
یې د ماضي په کنده کښې شاته پرېښي وړ په دې

ټول ژوند کښې د خوښۍ یوه داسې خاطره نه وه ورته یاده چې هغه ټې د خپلې جیبې کتابچې په یوه ورځ پاڼه کښې د یادداشت په توګه لیکلې وای. د چا پیریال او ماحول کرغیړنې اوضاع د دغه اسکیرلی یتیم ژوند نورهم ویرجن او په غمولړلی ووئ. د شا اوخوا محیط دې بند وباره عیاشانو بازاري لونډه ګانو، پای لوڅو بدمستانو بې تفاوته حرکاتو د لونګ غریب ژوند څو کیلومتره نورهم د خوښۍ او خوشحالۍ له ډګر څخه په هاخوا شړلی ووئ.

همیشه به په الوتې څېړه ببر سر او خیرنوجامو کښې د مسجد دلوی دالان په مخکښې ناست ووئ. او ځان به ټې د خپل مظلوم ولس دراتلونکي ژوند په اندیښنو کښې د تفکّر سمندر ته ورلاهوکړے ووئ. لدې سره سره چې په وروکتوب کښې ټې خواریځ مزدورۍ ته ملاتړلې وه او بدن ټې ددوبې تودوکرمیو سېځلی ووئ - خوبیا هم د مناسبې باډۍ قوي اندامونو او بنکلې څېرې څښتن وو. لونګ ځلمے وو د هغه ځوان زړګی د جنسي مینې په ځای یوې داسې مینې تسخیر

کړی وو چه لونګ ېئ پرقدا ست او سپېڅلتوب ایمان درلود .

دهغه دفکرکړتري اوس د هېواد دآزادی اود خلکو خلاصون دارمان په شنه آسمان کښې الوتنه کوله .

په هرچا ګران وو د ټولو کلیوالو په زړه کښې ېئ ځای نیولی وو - د بنوونځي په انګړ کښې بنوونکواو زده کوونکو ټولو هغه ته دیوه ذکي اوسبقی هلک په ستر ګه کتل اود مزدورانو په منډه ېئ کښې ټولو هغه ته د یوه صادق او مخلص مزدور په توګه پېژانده.

دزمانې دګذشت په جاده کښې ېئ ورودازمایښتونو له سختیوسره عادت ومونداود مقاومت روحیه ېئ په تدریج سره د ګړاوونو په کوره کښې پخه شوه .له ظلم نارواا ، استبداد اوتشدّد سره د خپل هېواد د محکوم انسان په پلوئ اوتا ئید د جنګ بې امانه ډګرته ووت.

هغه د خپل رنځور محیط د تداوی لپاره په هڅو پېل وکړ - د هغه په عقیده باید د رنځور ولس لروجود څخه فیودالي سرطان دانه عملیات شي لونګ اوس دخپلو سرنوشت شریکه اند یوالانو په مبارزه حلقه کښې

د يره منظم اوهدف مند عنصر په توګه تبارز کړی وؤ
خواغيار طلبو مزدیانو چيرې هم لونګ غريب آرام
پرې نښود - يوه ورځ چاورته وويل . لونګه
په دې کښې خو شک نشته چې ذکي او سبقي
هلک ئې خربد عادت دې دادی چه هيڅکله هم د
خپلې کمبلې سره سمې ښښې نه غځوي .
مېرزتون چه خدائے خراروي نو وزر به ورکړي - دا
خلک به دې يوه ورځ په دا سې بلا ګرفتار کړي چه
بيا به دې خوله وازه نيولې وي هغه دچاپلاصطلاح
شوټ به دې کړي .

روسي نا ديده مېرغضبانو به د لونګ بيچاره کوټي
وجود لدې امله په بيرونۍ کښې نشو زغملے چه هغه
د دغه مظلوم نما ظالمانو څېرې ترهرچا بنه پيژندې .
لونګ په بيرونۍ کښې د الحادي اووارداتې افکارو
په وياندې ممانعت يولوے د ديوال وؤ نوځکه هغوے ورته
د کمراصل او کچه پيرولتر لقب ورکړی وؤ .

د ډالنګ اوبستر په نازولو ورښيمين نفسانو انتقادونه
پرلونګ باندې داوؤ چه ګوره د خدائے خرار کړی - خرار

سره برګ ېئ سپی . دامرښز لکه چه مسلمانان نه یو - اسلام یواځې ستا اجاره ده هسې خوشې ټوپکې او خیزونه مه وهه ته او اسلام کټل لکه ځمکه او اسمان هرمره فاصله لري .

مونږ هم ستا په شان ټوپونه وهلاے شوخ د حکومت له زوره سره هیڅ نه کیږي . پاچاهي متولیان لري او ..... د حکومت زور د خلاے زور دے - د پسرلۍ د دویمې میاشتې لومړنۍ شپې اوورځې وې - یوه ورځ ېئ په خپله ځولۍ کښې ډېرې حادثې ونغښتې ما بنام شوړ اسمان پرلمن رښوا وځلیدونکو ستورو د جادوګر حسن یوعجیبه نندارې وړاندې کړې وه ، ځمکې ځان په شنه بخمل کښې پېچلی وؤ - د کلي په شاو خوا لښتو اوویالو کښې د چنګا بنانو کوړهار د ارام ماخستن سکوت مات کړے وؤ ، خوانې او پاسته نسیم د خپلو لړنګینو وزمو سره د حسن په باغ ارم کښې د نازکو غرتیو خولې سپرلې . د کلي د لوی جرمات د باندینې دالان د پخوا

په شان د بېکارو نسواري بوډا کا نوم با ندې اراو
مجلس د تالار حیثیت ځان له غوره کړی وؤ .
ټول په مجلس کیوتلي وؤ .

میرعلی اکا د پخوا په شان غبرګې ګوندې
ما تې کړې وې اود سقاوي پاچاګردی قصه
پئ کوله - هغه سپین زیری وؤ د ږې څلور
پاچاهی لیدلې وې اکثره وخت ئې لیدلې کیسې
بیا نوې میرعلي اکا چه به په خبرو پیل وکړنو بیا
به ئې چاته موقع هم نه ورکوله هغه قصه کوله
ویئل پئ :

له کره باغه دخروټو چیغه راغله سقاویان دغزنی
نانې ته وارسیدلې وؤ اومخ په کند هارواروان
وؤ له شاجوړې څخه د خروټو په لښکر کښې خاټول
اکا زمونږ له کلي څخه د سقاو مقابلې ته لاړاو
د علي خپلو په پلټنه کښې زه ولاړوم ، چه له مقره
ورتېر شو پر سقاویانو وروخاتو برید موسره شخ
کړ ، خاټول اکا شهید شوا وزه ژوندی راغلم ،
سقاو غل وؤ اوغلابئ کوله ، غله ورسره ملګری

شو ـ د خدائے تقدیر ووُ غلو باچاګردي شروع کړه څو نفره عقده دار اوکینه کش غله اوکیسه بر راټول شول شین غرلمبیت ټئ جوړکړ.
میرعلی کاکا خبروته ادامه ورکړه ـ ده وئیل چه دا اوسنی ښه نښاني هم داسې دي لکه د یرې باچاګردی" که داوړه وړه ډنډ وه ما مړوکښه.
باچاګردي راتلونکي ده بیا یوځوکسه سقاویان غواړی چاله کوله جوړه کړي، میرعلي اکاسپین زیری ووُ تجربه کارووُ، په هرځه خبروود هغه برداشت له حاضرې اوضاع څخه په ځای ووُ.
څو شیبې وروسته ژغ شوچه باچاګردی ده. څو شیبې وروسته ژغ شوچه باچاګردي ده. د سولې استقلال کاراوکارکړ په نوم نړي سقاویان پرکابل مسلّط شول د خلقیانو اوپرچمیانو چمرنه د غوایئ تراړو دوړله مخه کټ مټ د سقاوُ د زوی د عادتو په څیر ووُ.
د میرعلي کاکا مجلس لانه ووُ خلاص شوے چه بیا نا ببره ژغ شو باچاګردي ده د باچاتخت واوښت.

د باچا کردی ژغ هغه ژغ ووُ چه دلونګ بچاره په سرکښې ېُ ویښتان جګ جګ ودرول دا هغه ژغ ووُ چه لونګ ته ېُ دیوه اوزده پیچلی او لوړ منزل په لورد سفر امروکړ.

لونګ پوه شو چه سره کفار د هغه د هېواد پر لمن دا سارت تور داغونه زدي له ښارونو کلو اوبانډ وخته ځوانان مورچوته وختل ، چاد هجرت لاره غوره کړه او خوک په محاذونو کښې په عملي کار اومبارزه بوخت شول.

لونګ لاد مخفي مبارزینو په یوه حلقه کښې کار کاوه خو دا ساحه هم پرې تنګه شوه هغه تصمیم ونیو چه چیرته لاړ شي او سنګر بدل کړي.

خو بیا چه به ېُ د کور د پای د پوال ته و ګتل اود ورښینو اوړو جوال به ېُ تش ولید په ذهن کښې به ېُ په لس ها و پوښتنې پیدا شوې.

که زه لاړ شم د پلوشې او ادې لپاره به ووې چه خوک پیدا کړي ، که زه لاړ شم پلوشه به خوک په ډولۍ کښې کښېنوی او خوک به ېُ خاوند کورته

رخصتوی او ..... یوه ورځ چه سهار وختي
د پ برو د ما تولو د پاره غره ته تللے وؤ - لښې ته چا
راپور ورکړ چه نن ما بنام د لونګ په کور کښے د مسلمان
نمافرنګیانو ؟! جلسه دایږبزی . د شپې په توره
تیاره کښې د روبل او کوپک رقاصانو لونګ د بوډی مور
اوپښلې خور له غټې راجلاکړ هغه د مورا وخور په لورے
داسې وکتل لکه چه وروستی دیدن لپاره وي د زنځیر
شرنګ شو اولونګ روان شو - هغه روان شو خپله
وینه د تاریخ په زګونو کښے ترزیق کړي - هېراد ژوندے
وساتي او تاریخ د هغه زنځیرونو په شرنګ کښے د شاعر د غه
شعر زمزمه کېدو .

د پرې شپې دی په هرچا باندې راغلي
چاویلي دی چه بیا به بهار نشي

لونګ یوه میاشت په محبس کښې وولړ یوې میاشتے
وروسته د کندهار د منزل باغ په شپلو کښې د -
ببلدوزرانو په وسیله ترخاوروولاندې شو.

بیابانی قهرمان

په بیت المقدس کښے یواځې او تنها وم .
دیورشلم د ستر معبد زیارت ته په دې غرض راغلی
وم چه د خپل بچي د زېږدنې په ویاړ په سه نذرانه
کړم . له نذرانې وروسته د روحي اوروانې سکون
په حالت کښے د عبادت ګاه ته ورغلم .
هر زه ولاړ وم اونظر مې په زردارانو او سود خورو کښے
ښخ کړی وؤ ما د کوتر بازانو ولنډه غروبنداره
کوله اوغوږونه مې د نږدې کور شور او غوغا ته ټک
ټک نیولی وو .

زه لا ولاړ وم چه یو غریب سړے د زردارانو او صرافانو
په منځ راکښته شو غه سړے د پرستار وله معنوي
وقار څخه سرشار راته بنکاره شو هغه په د پر
حیرت ناک انداز کښې د صرافانو په د له کښے ورکښته
شو د هغه په لاس کښے له څرمنې څخه جوړه شوې
یره اوږده تازیانه وه په قهر شو د کوترو بازانو او زردارانو

په وهلوئ پيل وکړ. په لوړا وله غرور څخه ډک آواز ئې چيغه کړه دغه اسيرالوتونکي پريږدئ چې والوزي اوخپلو خالونه ستانه شي.

هغه لاهمغسې د وقارا وغرور ديوځپاند توفان په څېر غرمبېدو بنځې اونرئ له مخې څخه تښتېدل خو هغه روان وو - لکه يوسهمناک توفان چې په ډاروونکو ريکستانونکښې غرمبهارکوي دا ټولې حادثې په يوه دقيقه کښې پېښې شوې اومعبد له زردارانو اولنډه غروڅنيوه شېبه کښې تس نس شو. خوهغه سړي تنها هماغلته ودرېد اوپيروان ئې هلته لرې دده په هکله نګران ولاړ وو.

په دې حالت کښې مې مخ پربل لورې واړوو اوپربل مېرنۍ مې د عبادت ګاه له رواق سره ولېد وو نزدې شوم پټوس مې وکړ. ممکنه ده دهغه سړي په هکله چې هاغلته د يوه معبد په څېر په پښو ولاړ دے معلومات راکړې چې څوک دی؟

ويئ ويل - داهماغه عيسےٰ ع دی هغه پيغمبر چې په شهر جليل کښې ئې ظهور کړے دی ولې هغه

ټول خلک چې په اورشلیم کښې هستوګن دي له دې
میرنې څخه ډډ بد کیږي او دهغه دښمنان
دي .

ما ورته وویل چې زه داجرأت په ځان کښې وینم چې
له غچینې سره یې ملګرې شم په هغه کښې دومره
سوله اومینه وینم چې ما دهغه په قدمونو کښې
وغورځوي .

عیسیٰ ولاړ چیرته -

هغلته چیرته چې یې دوستانو د لیدلو انتظار
درلود - اما مخکښې له دې چې ددوستانو سره یوځای
شي د عبادت ګاه درې کونرې یې واخیستې ، یوه
یې پرکینې اوزه اد دوه نورې یې په وړاندې ونیولې
اوبیا یې د ترحم لاس پرې تیرکړ او دشینکي
آسمان په لورې پرې ښبود لې .

ستاسې دې په خدائے قسم وي ماته ووایاست
چې هغه په کوم قوّت په سل هاو ښځې اونږه غچینه
ووهل اوپه اسانۍ سره یې وشندل ولې له هیڅ
مقاومت سره مخامخ نه شو ؟ سره له دې ماته وئیل

شوي وو چه ټول ځځ دښمنان دي اما هيڅا
په هغه ورځ مقاومت ونکړ ـ ايا دې خلکو
د دښمنۍ نښې ځځ معبد ته د راتګ په وخت
کښې پرې کړې وې ؟

غوبنه

غوبنې : ولاړه بوی دی ځی

خواړه خسته شې ، دکښېنا ستوبل ځای د ې
نشته چه زما څنګ دې اجاره کړے دی - دا سپېرې
شوندې دې دتور لحد مېلمنې شه !
زرلښتې په ډېر قهر سره هغه خواړه دهمزولو له مخه
سپکه سپانده کړه !
غوبنه هسې هم نه وه چه د ډوزې ټې ولاړېدې
اوبوي ترې ته ! نه نه که دانصاف تقاضا
مراعات کړو نو غوبنه به ټول کلي کښې بنکلے وه او
تر وسه ټې خپل نظافت هم ساتلی وؤ تورې تورې
اوزدې اوزدې کوڅې ، لوړې ونې ، نرې شوندې ان ،
غټې بادامي سترګې ، جګه پزه ، پراخ تندی
اوورسره د پښتني بنکلا اصل معیار " حیا " هم
ملګرے وه هرسئ غوبنه د بنکلا پردې ټولواوصافو

برسېره يوه خبره او پسمنه څېره درلوده . هغه چه به سهار ولاړه شوه کری ورځ به ئې د سمندر دلوړې چمبر غولی جاروکاوه ، له نغرو څخه به ئې تورې ایرې امبارونوته چلولې .

د سمندر د لمسیانو اورښې به ئې پریولل، پسونو، غواوو او خروته به ئې درویشتې ورکولې ! خس اوخاشاک به ئې « پخلنئ » ته چلول - اوبه لوښي خلاصه داچې د کاله ټول کارد هرسې اجاره وؤ .

هغې ځان نه درلود هغې ځان په نسبت رحم هم نه درلوده که د بل چا په سرکښې به څېریکه غوندې وکړځپېده نو هرسې بنده به بیا ورته ولاړه وه ، وش ، واخ ، اللهٔ دې دارنځ درځنه واخلي خدائ دې مه زهیروه پرورد کار دې جوړکړه .

اما هرسې کنهګارې به په سخته اوایشیدلې تبه کښې هم کار نه پرېښوده دې به ویل ، دوزخ که سوړ ده که تود دعاصی خرورته مخه ده . که دلته کار ونه کړم اوپه تبرمبرله کاره ایساره شم واړه وروسته

اوزره موربه مچ شه وخوري ، مګرخولې بیابان
باد ته ونیسي .

هوسۍ د بنکلا ، عاطفي او ښوانې تقدس
یو بنکاره پیکر وؤ . کله چې به کومه پېغله ودېدله
کله چې به د کومې پېغلې اوربل د چا ځلي په نوم
خپریده نود هوسۍ بوري وراړي په زړه کښې به
یوې خواړې اوبېوسۍ هیلې سرا پورته کړ خو
ژر به د غربت ، بېوسۍ ، بېوزلۍ اونیستۍ توري
بلا د غه هیله پر سروټکوله .

کله چې به هوسۍ د خیالونو ، خوبونو امیدونو
اوهیلو په ټال کښې د واده کجاوې ته ځان پورته کړ.
د ورو ورونو ، لوڼې اود بودۍ مور نا روغۍ به
ژر دد غه ټال دا سې وشکاوه چې هوسۍ خواره
به ېځ د غمونو په یوه ژوره کنده کښې په شدت سره
غوڅاره کړه .

هونن خو واده وؤ له څو رځوا ومیاشتو
وروسته هوسۍ بد بختې د تافتې کمیس پریمنځلې
وو ـ او په ځان ېځ لږ څه ګوتې وهلې وې.

زرلښته د هوسئ دبادار لور نن ددولسولکوافغانيو دولور په بدل کښے د پورته سليما نخپلو دکلي د خان گلاجان په نړۍ ودېده هوسئ احساس کاوه چه زه دزرلښتې همزولې يم .

په دې کورکښې خوبله پېغله نشته همدا زه يم چه بايد دزرلښتې پرنکړيزو دريا ووهم ، زه بايد د کلي د نورو پېغلو په نسبت دزرلښتې په خوشحالئ کښے زياته برخه واخلم - لکه چه ازار اوکړاو د هوسئ دژوندانه تقدير وئ .

هغه نن هم خوشحاله نه شوه .

کله چه هغه دزرلښتې ترخنګ کښېناسته نوزرلښتې نه وړواونه لږ راوړو له واره لږ خوله پرې راوګرځوله .

- غوښې ولاړه بوی دې ځي خواره خسته شې ، بوره واره شې دکښېناستو بل ځای دې نشته چه زما خنګ دې اجاره کړے دی - دا سپېرې شرنډے دې د تورلحد مېلمنې شه .

زرلښتې هغه په دې برحقارت سره له خپله خنګه

ولاړه کړه - هوسئ بد بخته نه پوهېده چه څه وکړي - يوځل ئې انتحار فکر په مغزوکښې تاو شو هغې دوچوا وسپېرو شوندو په ښورولوسره ورو ورو د خلا صون يواځنی لاره دځان سره زمزمه کوله - راشه دزهرو يوغړپ دے تېر به ئې کړے ځان ته زندۍ ورواچوه ، ژوند نوخه دے .ايا دا عذابونه .....

نه نه .....که داسے وکړم ابۍ اوورونه به مې څه وخوړي - کاشکې مې اغاجان مارنه واى خورلى . خدائے دې ددنيا ټول ماران تباه اوبرباد کړي . څرنګه ئې زماد شيرين آغاجان سيورى زمونږ له سرونو څخه وشاړه .

آغاجان مې چه دکلي غوبه وو . نومونږخو په سپېرو ډوډۍ ښه ماړه وو خوکله چه هغه دکلي له ګورم سره په دښته کښے ماروخوړ بد بختى زمونږ دژوندانه دازل برخه شوه .

نه - نه باباجان مې چيرې هم دلوزو اوتندودلاسه دخانانو د سپکو سپېرو په وجه دغربت اونادارۍ

په وجه ځان د مرګ خولې ته ونه سپاره بلکه
هغه د ژوند د دوام د مقدس زیار پر سر د
نفس متاع وبائیلله زه هم دهغه پلار لور یم .
کیدلے شي یوه ورځ د نیکمرغۍ کوترۀ زمونږ په سر
باندے وزرونه وتپري او ژوندون د بد بخته
واټ له لاړې د نیکمرغۍ سرمنزل ته ځان ورسوي، دا
به ډیره سادګي وي چه ورونه اوالجه مې د ژوند
مشکلاتو ته پرېږدم اوزه دا بدبیت غېږې ته ستنه شم
نه-نه زه د ستمګر ژوند ناخوالوته د مقاومت
سنګر نه پرېږدم .
نن بیا د هوسۍ د مخ په کاسه کښے لږ څه د خوشحالۍ
اثار لیدل کېدل - هرنن یوه یتیمه غوښه و یخځه
په سره سندور کښے د برکلي بهرام خان غربه کورته
د یوې ناوې په څېره کښې ورتلله ، خو موراوورونو
لوی غم له دې څخه د غه خوشحالی هم لوټ کړی وه.
دا ځل به هوسۍ د بهرام له تسلو څخه د کې خبرې
د د غه سپېره غم مقابلې ته سپرو ګرځولی ! بهرام د
کوژدې په ورځ هوسۍ ته تسل ورکړے وو .

ـ کوزه هوسی سمه ده چه زه غوبه یم ـ سمه ده چه زه هیڅ نه لرم خو په هیڅ برسیره هرڅه لرم دغه مټې دزور مټې دي د خوارئ غریبی مټې دي زه به د ژوند په ټولو بد بختیو باندې غلبه کوم ته خپه کیږه مه ستا وړونه او مور زمانه پردي نه دي زه سوکند کوم چه ستا نیکمرغي به د ژوندانه د سپڅلو ربړونو په بیه اخلم ـ ته پوه شوې هوسئ زه اوس ځم.

د هوسئ پر غمرنو به د بهرام ځوانمردانه ټسل واسې یرغل وروړ چه غوښه هوسئ به یئ د کنډوالې کوټې د واړه پاریال د جام جم شهزادګئ کړه.

د هغې په سپیره مخ کښې به د پیغلتوب بنکلا راځرکنده شوه ـ یوځل به یئ حیا او بنکلا د مخ په تورو بادامي سترګو کښې په چپو شوه ـ هوسی د غوبه د کورنا وې شوه ـ ریښتیا هم د ژوند نیکمرغي د معنو یتونو تر سیوري لاندې ده او د زیارې په بیه ده.

د هغې نوې کورلې وسه او نادار وؤ ـ خو نا ریښه

ئې د ننګ ، ِهمت ، غیرت او شهامت نارینه وو.
د کارا وزیار په خولو کښے ئې د هوسۍ ټول
غمونه لا هوکړي وو . هغه په ریښتیا هم د زیار په
سپښلې بیه د هوسۍ خوشحالي تأمین کړه.

بهرام غوبه چه څه ویلي وو ـ د هغوې وړاندې
ئې په عمل کښے صداقت او ریښتینوالی وښود د هغوے
غریب اوبی وسه کور اوس د مینې او عاطفې کور
وګرځید اما دغه کورتن دو یر ناورین او غم تور و لوخړو
پرسرا خیستی وو د سرای په منځ کښې د بهرام ټوټه
ټوټه وجود چه پرون په دښت کښے د طیارو بمونو ځپلی وو
پروت وو او هوسۍ په وازکي چیغې پرې وهلې.
دوي فقط دوه کاله یودبل ترڅنګ ژوند وکړ هوسۍ
غېږه د دغه دوه کلن ژوند په اوږدو کښې له یوه بنکلي
ماشوم څخه هم ډکه وه او هغې نن د لیونۍ په څیر
خپل ماشوم د خپل شهید میړه پر ټټر وغورځا وه
او د هغه په وینو ډکو څنګونو خپلې نرۍ ګوتې
وملنډلی او بیائې په چیغو چیغو خپل تور لیمه پوچ
کړل ـ

دغم دپاسه غم راپښې شو
لکه چه زه دغم په ورځ زوکړے يمه
په هغه ورځ لکه چه د اسمان عواطف هم وځوړېدل
دتورې وريځې تور تور څېرې ددوي د نړيدلي انګړ
پرسر را ښکاره شول د باران اورښت د تالندې کړسمار
اود هرسمه چغهار په يو وار سره ملګرې شول . کوبا
دوي ټولر پردغه سپېره - ستوغ او نازغمه غم باندې
دهمښنيو شاهدانو په توکه خپله چيغه د تاريخ
حافظې ته سپارله . د پښتو لوی اوږې سره
بازار غوښې کوندې ته په بله ښه ښکارېده
هوسۍ مهاجره شوه خوږې اسرې اوغوښه
مهاجره هغه دزيارکښانو د انقلابي ايديالوژۍ؟!!
له بطن څخه درازپزد بدلی فاجعې د يوې ښکارشوې
هوسۍ په څېر وارخطا وارخطا هاخوا دې خوا
منډې وهلې .
له دوه هفتو وروسته هغه د جلوزو په کمپ
کښې راجستر شوه - دلته هم د طبقاتي امتياز
تر سيوري لاندې هغې ته راشن ونه رسيد اويوځل

بیایئ په کورونو کښې د لوښو وینځلوته ملاوتړله.
خود بهرام مهربانه غم د پرتړ هغه د ژوندانه
د ستمونو داژد هـــار له خولې وښکله ،
جوله یئ زیړه اورنګ پئ والوت په مخ کښې ګرنځئ
راپیدا شوې اود بدن وینه یئ ورو ورو وچه شوه.
دلمرتودواو سوځوونکو وړانګو د جلوزود کمیږې
یوه نرۍ خیمه کښې دهغې د ژوندانه د غمونو طومار
سره ونغښت هوسئ د خپل دوه کلن زوے په وړاندے
ساه ورکړه.
اود عمرې عدالت د مدعیانو دایرکنډیشن لرونکو
محلونو خواته بـــ کښه د فن شوه .

خپل خپلوان مې مړه شول

خپښانو اوخپلوانو مې روح وسپاره ، خوزه ژوندی یم اود یواځې توب اوبې کسې په ګوټ کښې د هغوے په مرګ باندې ژاړم اود هغوي په درد و نو نرحه سرائې کوم .

د هغوے د مرګه وروسته ژوندون ماته یو سخت ځنکدن دی - هر ټریخ او خوروونکی ځنکدن ! قوم ، خپلوان ، خپښان ، عزیزان ، اشنا یان او خنده رویه اندیوالان مې قول مړه شول دا وښکواو وینو رود زما هپواد سرتر پایه لرند خیشت کې زما د هپواد له هرې غوندې سره د وینو د توفان څپې غیږ په غیږ شوي خوزه لا ژوندی یم په هماغه پول لکه څنګه چه یووخت زما خپلوانو اوخپښانو د ژوند په صحنه کښې موسکا کوله اود لمر طلایې وړانګو به زما د هپواد په دښتو او بیابانو باندې زرزرې

فرش ویړاوه .

زما خپښانو اوخپلوانو دلوزې اوتندې د لاسه دژوند متاع وبايلله امّا تول دلوزې نه دي مړه شوي ځينې ئې دکارتوسرا و سرنيزو په څوکو دژوند له صحنې څخه دابد لپاره وشړل شول خوزه دلته د دې خوشحالرا وخوش نصيبه خلکوپه منځ کښې ژوند کوم .

دا خلګ خوند وره کټ او مزه داره ډوډۍ خوري .

د مستۍ شراب په سرا روي پرنرمو بسترونځيدلي دي دوي په روزګار خاندي اوروزګار پردوي .

خپل خپلوان مې په ډير خوار حالت کښې دژوند له صحنې ترخيص شول ، خوزه دلته ارام ناست يم فکرنه کوم سزه پسې کړځوم چه پاچا دوې وزې لري که نه ؟

خودغه دردونکی ماتم مې هيڅکله هم د يادونه وځي دغه زړه بوزنوونکی غم مې چيرې هم آرام ته نه پريږدی اوهميشه ئې زما په ګريوان کښې لاس اچولی دی . اوپه پرله پسې توګه مې زړه او

تتر توزي . که چيرے زه هم د خپلو خپلوانو اوعزيزانو په منځ کښې وزی وای اولوزې زه خوږ لاے وای . که چيرے می د هېواد والو په منځ کښې ازار ليدلاے وای اوازار ځوروﻻے وای اوس به مې ورځ هم آرامه اوشپه هم ارامه وه . ځکه هر څوک چه د نورو په سختۍ غم اوماتم کښې شريک وي اود درد ونو ملګری ښځ وي د عشق اومينې دنيايئ لاپسې بډايه اوغني کيږی همدغه دل اسايئ ده چه شهادت په وجود راولي اوشهادت دی چه دا احساس راژوندی کوي چه له بې ګناهو سره بې ګناهی اومعصوميت کښے د ځان بايلل د بل ژوند کښل دي .

ما متاسفانه چه د خپلو وزوا وځوريدلو هېواد والو له يرتمين کاروان سره چه د مرګ په جاده کښې د شهادت ويا بلې سرمنزل ته لاړه وهلې ده .

ملګرے نه وم . بلکه دلته داوه ګونو زورونو ترشا د هوسا ينې اوارامۍ ترسيوري لاندې غځېدلی وم - زه دلته له بد بختۍ اوبد بختانو څخه

لیرې وم اوس په هیڅ شي هم افتخار نه شم کولاے . له یار اود یار څخه په فرسنګونو لیرې تبعیدي اوشړل شوی انسان دعزیزانواوخپلوانو وزو اوتبزو څخه ویلاے شي .

کاشکې پوهیدلی چه له چیغواوفریاد څخه څوک چه درد احساسوي ګټه شته اوکنه که دغمروزی واے اود هیواد مظلوم ماشرم زمادانې په خپله لمن کښے صافي کړې واے کیدلے شوای چه دمرګ تور دیوخوږۍ د څرد قیقرلپاره له ځانه شړلی وای.

که دخوږو اوبو ډکه تاږه مېره واے اود هیواد د باغ دیوې وڼې په څانګه ځوړنده واے کیدلے شولے چه دهیواد یوې وزې څور پرے کړې ولے اوخوږلې وای .

که یو الوتونکی مرغه واے اودوطن په کومه ځاله کښې پروت واے ، کیدلے شولے یو بوډا نرس جان کړے وای اوزما په خوږو سره ځۍ د مرګ بلادځو دقیقود پاره پرشا تمبولاے وای ـ امّا افسوس چه نه دوطن په کرونده کښې دغمروزی یم ، نه دوطن

په باغ کښې تازه میوه یم اونه د هېواد د باغو پر شاخلو باندې د خوراک د پاره جوړمارغه یم .
اوداهغه بې نامه اوبې نشانه بد بختی ده چه زه ئې ځان او جهان ته شرمنده کړے یم اوداهغه دردوونکی ماتم دے چه زما ژبې ته ئې غوټه وراچولې ده . شونډان ئې راکنډلي دي لاسونه ئې راترلی دي اوزه ئې پرخپل ځان وچ کړی بې عزمه کړی اوبې ارادې کړے یم .

وائی چه ستا هېواد د بد مرغۍ د نر پوال کړکیچ اونړیوالې بد مرغۍ جزء دی . هغه وینی او اونکې چه ستا په هېواد کښے روانې دي دا د مځکې د کړې د هغې ویالې یوځو خاشکي دي چه شپه اوورځ بهیږی اوتوئیږی ، سمه ده چه زما د هېواد بد مرغي په واقعیت امرکښې د جهان د بد مرغۍ یوجزء دی .

امّا زما د هېواد بد بختي یوه کونکه اوبې نام او نښانه بد بختي ده . دغه مصیبت چه زما د هېواد اوخلکو پر سرراغلې ده نړۍ خوروافعي

بنامارانو پرې راوستی دی هغه ماتم دے چه نوحه اوغزا ئې نه درلوده . که چیرې مې ملّت د ستمګرو وینې خوړونکو پرضد دپاڅون په مارش کښے په ډله ایزه توګه د مرګ ډګر ته ورغلي وای .

وئیل به مې چه وژل کیدل اوله ځانه تېریدل د خپلواکۍ په لار کښې ترموډي اوسرتیتی ژوند زرکرته بنه دی اودا یوشرافت مندانه مرګ ووۀ چه هیڅ باک مې نه وو .

هرڅوک چه توره په لاس دابدیت غېږے ته راشي ترڅو چه حق په دنیاوي ژوندی او جاویدان به وي - که چیرې ملّت او ولس مې په نړیوال جنګ کښے شریک شوي وای اودجنګ په میدان کښې وژل شوي وای . وئیل به مې چه ټنډ اوډارن توفان وو - وچ اولامده ئې ټول سره ونغاړل - که چیرې شدیده زلزله پیښه شوې وای اوزما دنیکو خاوره ئې لټ پرلټ اړولې وای اوزما خپل خپلوان ، خپښان ، وطندارانو اوهېواد وال ئې ترخاورو لاندې کړي وای - وئیل به مې دا

د طبیعت اسرارآمیزه ناموس ووُ چه د بشر له قدرت څخه لرې دکنترول وړ اوا ختیار بهرووُ چه د راز پلټل اودکردار غیبت کول ټُ بی عقلي ده.

ولې زما ملّت نه د پاڅون په مارش کښے د وژلو ډکر ته ورغلي دي نه د جنګ په ډکر کښې په وینو لمبیدلي دي - حقیقت دا دے چه خپل خپلوان خپښان اووطندارانِ مې د سولې په سر ووژل شول.

لاسونه یُ د جهان دوارو خواووته او ستړکی ټُ آسمان ته نیولی وي چه عزرائیل علیه السلام فی روح واحیته بشریت یُ د معصومیتا وبی ګناهی له چیغو غوزونه پټ چوپه خوله اوخاموش مړه شول.

د سولې طرفداران وو امّا ووژل شول. په هغه ځمکه کښے چه د عسلو اوعطرو ویالې روانې دي له لوړې او تندې مړه شول زما د وطن په عسلو د واشنګټن او مسکو نازولو وریښمین نفسانو ژبې وټکولې.

زما د هېواد له غمه جوړې کلچې د بُن اوپا ریس په بیکریو کښے نورو د خوږې خو زما د وطن انسانان

ټول له لوړې مړو شول څومره بده مرينه ،
څومره بده فاجعه ، څومره سترمصيبت اه ولې ؟
په کومه ګناه ؟

دارمانونو خزان

د قلم دين بيچاره په حال به د چا زړه نه سوځېدو.
وچ کلک هډوکي ، د بدن سپېره پمن پوست ،
څوکړه دوه تاره زيره ، تک تور چاودلي چاودلي
شونډان ، زيړه زيښلې جرسه اوورسره دخواري
اوغريبۍ سپېرې دوړې چه د قلم دين بيچاره مخ
اوڅټ ځئ پټ کړے وو .
د مصيبت خوار په ژوند کښے تراوسه پورې
دربنا کومې څېرېکې غږونه نه وه کړې .
دخوښۍ اوخوشحالۍ حاصلول خو دخواراواکرب

قلم دین لپاره د مرغۍ شپږ وې چه حاصلولئ
درستم د هفت خوان په کیسه بدله شوې وه .
د قلمدین په ټول ځلوینبت کلن ژوند کښې
د هغه د پنځه ویشتو افغانیو تور ربړي چمړښان
په خارجي کلوشو بدل نه شول .
ده خوار له ډېره وخته راهیسې د یوې جوړې کلوشو
ارمان په زړه کښې ساتلی وو خو پوره پرې نکړ .
قلمدین دا ته کاله پرله پسې هندوستان ته د
ژمي پروخت د خټو خواري اومزدوري لپاره مسافر
کېدو ، خرچه راته به نو فقط دومره به پرې له ځان
سره راوړل چه د غمو تر رسد پورې به د هغه ځلورو
خولو اولادونو وځټل اوبیا به قلمدین دوه رابرې
بوټونه ، یوه د دهقانۍ بېلچه اویوه د غربت اوناداري
سپېره بنې سره پاتې شول .
ما چه به دقلمدین بېچاره سپېره مخ ، د
مخ په کاسه کښې ننوتلو وړو وړو سترګو ، لنډې
شناوي اوخوکړې زیږې ته وکتل ، نوسخت به
مې زړه ورته بد شو ، له خواشینۍ څخه به مې

په چنغرک کښے ساه را غوټه شوه ، پرزړه به مې ویراني را پرېوته - لکه پېریان چه مې ونیسي ریږدي به مې واخیست ، خوله لږ څه سوچ اوفکر څخه وروسته به د هغه وړو وړو بچو د مستقبل تصور زما په ذهن اوخیال باندې د امیدونو ګلونه راوورول .

چه د قلم دین څلورواړه بچیان به مې ترستر ګو شول ، نود کلیوالو دغه عامیانه سندره به را په یاد شوه چه :

تښتی به هالته چه هلکان واخلي کوچنۍ نه
نه راځخه ځي نیستی
وینه دې راوچه کړه هدونه مې توزي نیستی
نه راځخه ځي نیستی

قلم دین هم په دې امید چه څلور واړه بچیان به رالوی شي ، د کټې به شي په همدې امیدو طمع یې د خواری ، غریبی ، نیستی اوناداری پخونده څپې پر شا وړهلې او د مستقبل امیدونو په ریښا پسې دژوند په اغزنه لار باندې روان وو .

ده به هېڅ ویل چه خدائے مې دې ترهغه نه وژني

ترڅو چه ز ښکی دکتبې نشي ، زما د پرارمانونه دې
چه ټول مې په اولاد ونو پورې تړلی دي.

مرکیه دومره صبرو کړه

یومې نیستې ده بل مې د پردي ارمانونه
قلم دین کاکا نالوستی سړے وو - خو په ژوند کښے
ډیر تجربه هم درلوده . هغه لکه په خپل چاپیریال
دخپل دهقاني ذهن په صندوقچه کښې بنه
څېړلی وو ، نو ځکه بنه پوهیدو چه بچیان ډیر
یواځې او یواځې د علم اوپوهې په ډګر د مستقبل
د نیکمرغه غوټیو خوله سپړلاے شي .

قلم دین خپل څلورواړه زامن په بشرونځي کښے
شامل کړي وو ، په خپله به ډیر لاسونو پوستونه
دکړه له لاستو سره وتوزل شول خو په رامنړلې کار
نه کاوه .

چاورته وئیلي وو چه زامن دې د قرآن شریف قاریان
کړه ! ده له دې خبرې سره ترافق کړے وو. خو په
قرآن باندې له پوهېدو سره سره ډیر غوښتل چه
زامن ډیر عصري علوم هم ولولي او د قرآن د

حکمونو په عملي کولو هم وپوهیږی . ده ډیر قاریان لیدلي وُ چه زکات خواړه اوړاکد انسانان وُ .

قلم دین اکا به په ډیره طنزیه لهجه سره وُیل چه زماله زامنو څخه به خیرات خواړه نه بلکه خیرات ورکوونکي او خیرات بخښوونکي جوړیږی ، زه خو ښځ د بل په وینو نه روزم ، خو خپلې وینې پرے خورم ، نوزامن به مې ولې خیرات خواړه آمرخته کوم او یا به ښځ د تاویزاودم په شکرانه روزدي کوم ، بلکه دالله تعالیٰ سپاهیان به ځینې جوړوم قرآن به لولي پرې پوهیږی به اوعملي کوي به ښځ داسے نه چه قرآن به د خپلې خیټې مړښت ناروا وسیله کړځوی - زه خوار قلم دین یم ، خو ایمان مې نه دے خوار ترهغومې جار اوصدقه کړې چه دایمان سرمایه لري ، اود خدائے په مخلوق ښځ زړه سوځي .

شپې اوورځې تېریدې - هرے ورځې په خپله غټه کښے د حاد ثو لړیه له ځانه وړلې اوراتلونکی سباوون

د نورو حوادثو اوپښو انتظار کاوه ـ د قلم دين
زامن ارس ځوانان شوي وو.
يو ليک په لسم ، بل يې په نهم اودوه يې په
څلورم صنف کښے وو. د ټولو کودتا لا يو کال نه وو
تېر شوے يوه ورځ چه د بنورنځي د درس جريان په
عادي ترڅه روان وو ـ د بنورنځي په انګړ کښے
کوم بېکانه پروره جاسوس د خدائے د سپاهيانو د غضب
بنکار شو چه ناڅاپه په بنورنځي باندې د بمونو باران
شروع شو. د قلم دين د زامنو په شمول د بنورنځي
شپږويشت تنه شاګردان په وينو اوخاورو کښے ورغړيدل
اود ژوند له صحني څخه دا بديت ځولے ته وغورځيدل
او د قلم دين د راتلونکي پسرلی ارمانونه کلان هم
تالا والا شول اود هغه په ارمانونو ځړان کړه شو!!!

ريږه ريږه کړل د خزان سړو سيلو کلونه
لکه ژلے هسې رژيږي په شپږو کلونه
يا لکيدلی پرې نظر د نمرودي ستر کردے
يا خوله تندې دادے وچ شول د ميرو کلونه

د شاعر وير

ای د شنه اسمان په شنه کاسه کښے غلبه رنګیږ
ستررو !
ای د اسمان د جبین بنکلې پېغلې ، ای سپوږمۍ !
ای د لمر طلایۍ ورانګې !
ای د طبیعت جادوګرو جلوو !
ای د حسن د باغ ارم بنا پېرو !
ای د بنایسته دوطن رنګرنږ ، عطرونزا وګلونو !
زه شاعر وم ، زما کلام د حسن ، بنایسته او جمال
ستاینوکی وؤ . خو ما بنایسته ونه ستایلو .
ما ګلونه ، چمنونه ، رنګونه او عطرونه و
نه ستایل .
ای سپوږمۍ ! ما ستا تر روح پالونکو پلوشولاندې
د چا د رونې جبین ساحري بنکلا ته غزل ونه لیکه !
ما د نیا د لیونتوب رنګهارد خپلو نغمو په ژکونو کښې نه
د ی ګډ کړی ، ما د اوږې جادوګر حسن نه دے ستایلی

زه د بارخوګانو سره بنایست ترانوته نه یم هڅولی .

ای د لمر طلائی وړانګو تاسې شاهدې یاست ، کله به چې ستاسې زر زري فرش زما د کور کلي پر بخملی غولی خپور شو ، حسن او بنکلا به یاغی شوه او وبه پې به په څپو شوې .

زما د بنکلی هېواد په هرچمن او ګلشن کې به د ګلونو او عطرونو وبې روالوتې ! زما د هېواد مستو سیندونو به له خپل ځګن شور او ځوږ سره غږونه په مستۍ راوستل .

زما د هېواد هره ننداره د حسن په نغمو اود بنایست په ترانو ارزیده .

زما جنتی تاتوبی د طبیعی ترانو تاتوبی وې .

دیوه شپون د شپلمې ژغ له هرې نغمې څخه خوندور وې ، او دیوه او بنبه اویوه لپر به ما بنامنه غاړې ، د تورو ګانو زړونه هم د خوښۍ او خوشالۍ رقص اونځا ته هڅول .

خو ما سندره ونه ویله .

زه شاعر وم ، خو د حسن ترانه مې ونه

لیکله ،

زه شاعروم ، خود بنکلا جادوګر و او کوډګر و جلوو په ماچیرې هم مستانه غزلې و نه لیکلې.

حال داچې ، زما په کودکي سوله وه ، اوس سره - وسر سره رنګینې هم .

زما هیواد د طبیعي بنکلا جنت وُ ، ما باید دشنو د بنتو په لمنو کې د هوسیولو منډو ، د زماکو له ښارو ، د بلبلانو له نغمو او د بوټاکانو له سندرو څخه د مینې الهام اخیستی وای او د سروسا اومستۍ سندرې مې ویلای وای .

خو ما سندره ونه ویله !

زه شاعروم ، ما په غزل کې سره شوندو ته عکس جوړ نه کړ .

زه شاعروم ، خو زما په سندرو کې د پاولیو شرنګهار ځای نه شو .

زما په ترانو کې جامونه ونه کړ رنګیدل ، زما په فن پاروکې ، امیلونو خپل تصویر ځای نه کړ ، زما په لیکنو کې اوربلونه یاد

نشول ، نه ما قلم چې ته هم د طبیعت د بنکلا مداح نشو .

هو ! زه شاعر وم ، ما هم زړه درلود ، نه ما احساسات او عواطف هم د انسان عواطف وو ، د یو حساس انسان ، دیوانګې رونکي انسان ، دیوه بادمه که انسان عواطف .

ما خپلې دخو بنیو او خوشحالیو وسځې او شپې له نورو سره د هغوی په غمونو کې شریکې کړې ، ما د خپل جنتي وطن ګلونه اورنګونه هیر کړل .

ما د نورو د پرهر ونو او زخمونو سندري ویلې ما د خپل وطن د معطرو وږمو دستاینې پرځای د نورو په کود او کلې کې د جنګ د لمبو اولوګیو لپاره د حسن نغمه دوین په نغمه بدله کړه .

ما د بنایست د ستاینې پرځای د نورو په وطن کې خپلې سندري د جنګ ، ظلم ، نا وړا ، بربریت او استبداد دغندنې په سندرو بدلې کړې .

ای د فلسطین شاعره !

مګر تاته نه دی یاد ، چې ماستاد پر هرونو او زخمونو له پاره خپل قلم اوچت کړی او له تاسره مچ ستاپر وطن ، کور او کلی او باندو باندې د غاصب صهیونیزم د غندنې فن پاره تخلیقولې

مګر تاته نه دی یاد چې ما د خپل ځلمیتوب مستانه دوران له تاسره ستاپه غمونو اودرډونو کې لغړون ټپر کړ .

ای د الجزایر شاعره !

مګر زه ستاپه غمونو کې نه یم شریک شوی مګر ماله تاسره د فراسوی بنکیلاک پرضد ، ستا د خلکو د حماسو ستاینه نه ده کړې .

ماستاد تود سرو پر کوندتون نه دی ژړلی ، ماستاد یتیم له انګولا سره د ویرژړا نه ده کړې ، ماستاد لاس ته راوړلو لپاره د ظلم پرضد د غندنې چیغه نه ده پورته کړې .

حال داچې ، ماهم کولای شول بې غمه باش و وسپږم اوویلی مې وای چې : له

عالمه سره غم نه غم ، " پر دی غم تل واوړ وسوه
دی ". خونه ! ماهسې نه دی کړی .
ای دافریقا شاعره !
تا ته نه دی یاد چې ما به د نرموسو شوندو
پر ځای ستا پر پیړو اوپندو شوندو انو باندې
دغم او ناورین لوړ کودری ستایل اوستاله
او سنګو څخه به مې د نغمو بهیر جوړاوه .
خدای (ج) حاضردی ماخپل سدوراوفرهت
هېر کړې وُ ، اوله تا سره مې د سپین
پوستو ناروا او نادودونه بدّه دویل .
ای د ویتنام شاعره !
زه تا ته هم خطاب کوم :
خیر که نن ته له یوه لیوه څخه د خلاصون
په اُمید د بل لیوه خولې ته ولوېدې ، خو
ماستا بدې وړځې له تا سره ژړلې دی ،
ماستا د خلکو پر ژړپوستکی باندې د امریکایې
بارولو تورو داغونو ته بد ویلی دی ، او د آزادۍ
لپاره مې ستا د خلکو بهیر دستاینې په نغمو

بدرګه ګړی دی .

اوای د آسیا ، افریقا او لاتینې امریکاشاړنو!

مګر زما نغمو ، سندرو ، بولدو اوغږلو ستاسو د ویرولو او دردولو لپاره او سنګو او ساندونه دی بدګه ګړی ؟ ماله تاسو سره د پرزړلی دی .

ما حسن پرې ایښی وُ ، ما جمال نه ستایلو ، ما اوږلونه ، نه یادول ما ګلونه اوعطرونه هیر ګړی وو ، ماد سرور او خوشالۍ غزلې او لوللې پرې ایښې وې !

ماله تاسو سره ژړل ، زه له تاسو سره ګریډلم .

خو!

هوکې! نن چې زما کور اوګلی ، زما وطن اوچمن ، زما ګلونه او بهارونه ، زما غرونه اورغونه ، زما سیندونه اوځړوبی ، زما ښایستونه او سنګلاوې غاصب او متجاوزکونکوم دبارو لتوداوردولو په لمبو کې سره را نغاړلی دی ، زه موولې ، هیر ګړی یم ؟!!

زما د شهید سره زخمونه مو ولې هیر دی ؟ !
تاسې و لې د هغلونو پرځای زما د زخمونو عکسونو
او تصویرو نو ته په خپلو نغمو کې ځای نه ورکوئ
تاسو ولې زما د وطن مظلوم یتیم اوسنکو ته
اعتنا نه کوئ ؟ !

ای شاعرانو اولیکوالو !

شاعر د انسانیت مداح وی ، شعر د عواطفو
نمایندګی وی د شاعر زړه نازک وی اوله خوا
خونړیو پک !

نو ! خپلو نغمو او سندرو ته ، خپلو غزلو او
بولدو ته ، خپلو نثرانو او فن پارو ته زما د مظلوم
وطن ، د مظلوم انسان د زخمونو هانګ ور
کړئ !

د انسانیت په نوم ، د انسان په ننګ ودریږئ
د آزادۍ د تقدس په نوم ، زما د خلکو له خپلواک
تاریخي مارش سره ملګرتیا وکړئ !

له موږ سره ملګری شئ ، زموږ د زلزلو
ملاتړ وکړئ ، موږ به د عصر معاصر سره

زنخیرونه د ټول حکوم بشریت د نیک شګون په
نیت مات کړو !
زمونږ وړوکتوب پخپلو ترانو کې و نغاړئ !
زه هم شاعر یم، مامه هیروئ !!!

سبا به بیا کډې باریزي

کله چه د بنتونو او راغونو د پسرلي خوږو وزمو بهیر پیل کاوه . ! نو د کیلان په د بنتو کښې به هم د شنو میدانونو په لمن کښې د غلجیانو تورې کیزدې ودریدلې - ماته په هغو شپو ساحرا و جادوګر طبیعت څه بل راز بنکارېدو- د پوهنې کانو د میږو او د پسونو رمبهار - د اوښانو اوزده اوزده کتارونه د شپې د شپېلیو سندریزې څپې - د اوښبنو مازیګرنۍ نارې او د شنه دشت په صافه لمن کښې ترخوشحاله آسمان لاندې د افغان بدوي انسان د ژوندانه ساده اوله بنکلا ډک منظر - د تورې کیزدې په لمن کښې د اوروزو د لمبو سره د افغاني فولکلور د غه مسرې چه :

سبا به بیا کډې باریزي
د د بنت کلان به ستا لمنې بوریه

هو- په هغو شپو کښې چه اسمان ښین وؤ-
څرند د نېکمرغه هیلو اوروا ارمانونو په جاده کښې د
انسانې تلاش له منډو سره نور هم په ښکلا
اورښکینې کښې نغاړلی وؤ. او دکوچیانو له کیږدیو
څخه د تېغې د پاستو بوی خوترهرڅه عطرو
رنګین وؤ- زما ماشوم زړګوتې هم بې ښکلا
بل څه نه لیدل - د نفرت اوکینې له نامه سره لا اشنا
نه وم - خدائے زده هغه شپې به بیا د زمان له طوفانی
ګرد شونو سره څه وخت د افغانانو خپروجونګړو ته
را وکړئ.

سهار چه به لمرخپله سینه د غره له څوکې
راپورته کړه او زمونږ شین اوله ښکلا ډک کلی به یې
د زرینو پلوشو په غېږ کښې ونیو - نو د ژوند د
مقدّس سوهاخوبهیر به هم پیل شو، پلرونه به
د کلي بهر په شنو کښتونو کښې په کار بوخت
شول، میندو به بچي د ښرونځي لپاره سمبال
کړل - ښځګانو به بپلونه واخیستل - شپنو به کوتکونه
واخیستل اوله خپلو رمو سره به یې د شنه

په بنپرازه اوسمسوره لمن کښے د ژوند په شپېلی کښې وپوکل اود طبیعت د رنګینې نغمې خوږوالی به ئې دوه چنده کړ - زمونږ کمکو اوورو بچو هم مسئولیت ووُ ، میندو به کتابونه په غېږ کښے راکړل اود بنوونځي په لوړبه ئې روان کړو .

ماته هغه شپې د پرې رنګینې وې - ماته د ژوندانه هغه لحظې د پرې شیرینې وې - زه به چیرې هم د هغو شپولہ بنکلا وک کیفیت د خپل ذهن له صندوقچې څخه ونه باسم .

زمونږ دکلي اوبنوونځي ترمنځ یوغټ میدان واقع شوے ووُ . چه د پسرلي په لومړیو میاشتو کښے به غلجو پرنده کانو هلته مینه کوله اوکډې به ئې اړولې .

دغه کوچیان به له کرمو منطقو څخه راتلل اود شاه جوی اوکیلان پرلاړه به پاس ناورته لېږد یدل - ددوي د کډو په لوے کاروان کښې به همېشه ببر ببر سپي لیدل کېدل - میندو به اکثره وخت مونږ د دغو سپولہ دا ړلو څخه ډاروله او

لارښوونه به يې کوله چه د کوچيانو د کيزدېو تر مخ نزدې مه تېرېږه خدائے ناکرده چه خرا وبرک سپي مو ونه خوري .

مونږ د ښوونځي شاګردان د همدې لارښوونې له مخې اود سپوله ډاډه اکثره وخت له کيزدېولرې تېرېدلو - خو دغه ډار مو ډېر ژر له مينځه لاړ- مونږ د دغو تورو کيزدېو ډار نورله خپلو کوچنيو زړونو څخه شړلی وو - اودا ډار هم دچا دعا طفې له زوره زمونږ له زړونو څخه کاڼه شوئے ووُ .

په هغه ورځ چه د شمال خان احمدزي د کيزدئ له مخه تور سپي پرے رامنډې کړل ماژرکتابونه پرمځکه وغورځول اوچيغه مې ترخولې وختله پرمخې په مځکه پرېوتم اوپه غبرګو ستړکومې لاس وښيو - خو ډېر ژر قوي اوله زوره د ګولاسونو را پورته کړم ، اوبيا په همدغو قوي لاسونو له مځکې پورته شوم د چاپه تېټ پورے ونښتم ، يوه لحظه وروسته ولږهېدم چه زه خوکوچے ببرو[1] له مځکې

---

(١) د زابل اوغزنې خلک مشرې خورته ببروائې .

پورته کړے یم - کوچې ببوله یو ساعت کتلو وروسته
پر سرلاړ س را تېرکړ او بیائې غږې ته راپورته
کړم ښکل یې کړم اوپه متینه لهجه یې راته
وویل :

کلو - مګر ته سپي خوښوی ؟ نه خوښوندی
یم تا چرته سپی رانه خوښلاے شي . راځه کیږدی
ته - ببوپه کیږدی کښې بیا هم واړه راکړ ، چه نور
به دغه سپی تاته نه غاپي .

په هغه ورځ ما داسې انګیرله چه هرڅه مې
پیدا کړی دي . دکوچې ببو خوږو خبرو اوډاډکیږنو
شپدو اومستو نه تردې ځایه پورې رسولی وم
چه که پخوا به سل کامه له کیږدی لرې نه پریږدم
خواوس به په ورځ کښې حتماً دوه ځله کوچیانو
کیږدیوته ورتلم اود کوچې ببوله مهربانو لوړینو څخه
به مستفید کیدلم .

په هغه ورځ نه له ښوونځي څخه کور ته
رخصتیدم - کوچې ببود هرایې کلانو یوه غټه
کیږدی راته تیاره کړې وه - د رخصتیدو په وخت

کښې ښځې راته وویل : ګلو ! دا ګلان به د سبا ګال په پسرلي کښې زماله خوا تاته وروستی تحفه وي ته ورته وګوره څومره ښکلي دي ـ تاسې ټول کوچنیان ګلان یاست دا ګلان لنډ عمرلري خوتاسې دې همیشه ژوندي اوسئ .

زه په هماغه ورځ په ډیرو کاوکو قدمونو د کورخواته روان شوم ما فکرکاوه چه نوربه والاړ زما په سترګو کښې اغزي راوشیندي ـ ماته دمشرې کوچه خورله شفقت څخه محرومیت د پر ستوغ او نازغمه محسوسیدو .

سهاروختي ملا اذان له کوره راووتم ـ د کوچیانو کیزدی بارشوې وې ـ کډې ټللې وې اوترلرې لرې پورې صحرایې ګلانو دهغوے ټولولمنې بویولې ـ او زما کمکوتې زړګي څخه د غه لنډه داوښکو له بدرګې سره سرراپورته کړچه :

سبا به بیکډې باریزي

د د بنت ګلان به ستا لمنې بویوینه

شپې اوورځې د وخت اوزمان په ځولې کښې لټ پر

لټ او ښتې وختونه تېرېدل او دژوند بهیر پر مخ روان وؤ ـ ما وپرکوشش وکړچه ترکوچه ببو پورې ځان وروړسوم خوهغه اوس زمانه د ښه لرې وه . کوچه ببو د لوګر دازرې په کوچیانو واده شوې وه او د کډو هیلبند هم تغیرخوړلی وؤ

د ثور د فاجعې د دویم کال په وارسېدوما هم ټوپک واخیست اوله مجاهدینو سره سنګر ته روان شوم ـ زه اوس ځلمی شوے وم اومانۍ مې هم لږې لږی توروې شوې وې .

د جهاد په شپږکښې به مجاهدینو چای او ډوډۍ پرکوچیانو خوړله ـ سږکال د جهاد کال وؤ . او جهاد هم په پوره قوت روان وؤ نور هغه څوک منی نه وو چه د ژوند له نغمو سره به یې زمونږ پرد ښتوا و بیابانونو باندې د طبعې سوغات شین ښکل غوړولو .

سږکال د ښتونه هم د یوه عظیم انسانې جنایت شاهدان وؤ ـ هرڅه بدل بنکارېدل ـ نور له د ښتونو څخه د کلانو درا ټوکېدو پرځای سرې

سکروټې را پورته کېدې او بېرته به د دښمنت په لمن کښې سمې کېدلې.

مازدیګر چه زیږ لمر د غره پرسر غږغږه وخوړه زمونږ ګروپ هم تعرض پیل کړ - مونږ د سهار خواته د لمرله لومړنیو وړانګو سره د تورې شپې څادر داغیار پرسته لنډه غږه د حاکمیت له تخرسره یوځای ټول کړ - د ګیلان علاقه داري ازاده شوه - خو د څابنت خواته د دښمن متقابل انتقامي یرغل پیل کړ - د ګیلان د پوونده ګانو د ګر زمونږ د جنګ د ګر شو جنګ تر د پرو پایښت وموند - د جبون اوبې غیرته د دښمن چه په مونږ زور ونه رسید - دالوتکو اوجهازونو سینې یې د دفاع پوونده ګانو په پرکیزدیو راتیټې کړې - پوونده ګان لیږد بدوته مجبور شول - د کډو بهیر پیل شو مایوځل بیا په کډو کښې مهربانه کوچه ببر ولیدله - د هغې چه پر ما سترګې ولګېدلې ژړ راوړاندې شوه اوپه مهربانه لهجه یې راته وویل :

ګلو ! ته اوس ځوان شوې یې - مجاهد شوې

ېئ اوس خوبه له سپو نه وېرېږي - د هغوے
کډې روانې وی اودد بنت په لمن کښې دا
ځل سرو کلانو اوشنو بوټو د هغوے لمنې بویولې
ددې مسرې په خلاف چه :

سبا به بیا کډې باریږی
ددبنت کلان به ستا لمنې بویوینه

بلکه دا ځل سرو اورونو د هغوے له لمنو سره ژبې
وهلې اوکاروان ېئ مجبوریت له ناورین سره
دیوه نامعلوم منزل په لور په حرکت کښے وۀ .

ما خو د خوب صحنه کښله
د جانان کډې په ربښتیا له ملکه ځینه

اوښه هم ترانه نومیده

ماهنه پس له اتو کلونو بېلتون نه بیاومونډو، دواړه سره غاړه غړۍ شولو.

د بېلتون د ستوغوا وسپورو وختونو لړۍ نن ماد شمشاد په وصال سره رخصت کړه.

شمشاده! چیرته وې چیرته ګرځېدې، بنه شوچه ژوندے مې ولیدی! یاره بېلتون دې ډېر راته سخت وؤ - ما ژر کورته ناره کړه - ترانې ږغیه! هله چای راوړه - هله ...

د شمشاد چه د ترانې ناره ترغوږ شوه په څېره کښې ېې ډیوه ژور غم اوتریخ مصیبت ننبې ننبانې رابنکاره شوې.

سره د ګلاب بشړ یې تکه زېړه لکه د خزان پاڼه هسې واوښته. په ستونې کښے ېې نارې وچې شوې هغه بنه ساعت له چوپ ناست وواوبیاې زما خواته د نا کامې مینې په یاد له ترموا وښکو

دکې ستړکې راوا ړولې هغه ددې لپاره چه ما خپل لوی مصیبت څخه نا خبره وساتي ژړ ئې خبره پربله وا ړوله :

عصمته یاره !

ګوره دانما په ستړکو کښې اوښکې د خوښۍ اوښکې دي . زه له نن څخه اته کاله وړاندې ستاد مجلسونو خوږو - خوږو یادونو ته ورسېدم .

یاره ! خلک څه ښه وایئ :„چه خان یې نوپه یاران یئ „ دا اته کاله لوی کابل راته بې یارانو تنګ جهنم جوړ شوے وُو . خدائے خوخبر دی چه زه ستاسوپه ببلتون کښې څومره ځوړیدلی یم ، چه ته دلته راغلی نو زمرک جبل وخوږ لوبیا یئ پته ونه لګیده .

هارون خدائے وهلې د متجاوزینو په دام کښې ونښت ، هابل کال په یغمان کښې له مجاهدینو سره په جګړه کښې له مینځه ولاړ .

په پروېزګل بیچاره خواتلس کاله قید ختلې - له زرغون شاه څخه خوخبرئ چه دللندر ؛

جبهه کښے شهید شو!
دامین هم هیڅ درک اوخرک نشته ، بس یوازې
زه بد بخته وم چه همالته گیروم .
د شمشاد خبرے لا نه دي خلاصې چه د روان خلاصه
شوه ترانې چاے راوړ .
گوره شمشاده ! داستا وړه ترانه ده ، زه
چه راڅه مهاجر شوم نو په اول کال مې واده وکړ، اوس
همدا یوه لورلرم .
د شمشاد په څېره کښې بیا یوه غمژنه څپه راښکاره شوه.
ژر ېئ د پگړۍ پیڅکه ستر کوته ونیوه او بیا ېئ
زما څخه د خپلې ناکامې مینې د غمجن انجام د
د پټولو کوشش وکړو ! شمشاد راته وویل :
گوره عصمته یاره ! والله چه دیارانو یاریئ ،
بېشکه منم دی. والله زما د رائ مطابق دې نامه
ورته پیدا کړې ده ، راکړه لاس چه تک ځینې
وبا سم ، اود ترانې نوم څومره بنکلی دی -
څومره .....
شمشاده یاره وایه . ته لا په څو ند کښے یواځې ېئ

که دې واده کړے دی ؟

شمشاد زما ددې سوال په جواب کښې لکه د خټو بُت چوپ ودرېد ، په ستونې کښې ئې د ژړا یوه غټه غوټه راپورته شوه ، د مغ څېره ئې پربله واوښته ، خوژړېدئ ځان ته پام شو هغه د برکوشش وکړ چه ما د خپل ژوند له دېرے غټې ترا ژیدئ څخه همداسې بې خبره وساتي .

شمشاد د سرپه اشاره جواب راکړو چه ما واده کړے دی . ما بیا تپوس ترې وکړ : چیرته خدائے د ې خیرکړي د ېربنه وشول .

واده دې همالته په کابل کښې وکړ ؟

هغه بیا د سرپه اشارې جواب راکړ چه هو !

له چا سره ؟

هغه په غم لړلې لهجه راته وویل :

د چا د غمجنو یادونو سره !

اوف شمشاده ! داته څه وایئ ، د چا له غمجنو یادونو سره ! ستا دد بنمنانو واده دې له غمجنو یادونو سره وشي ، ولې څه شوې دې ؟

شمشاد راته وویل : بس پریږده عصمت جانه !
ښه دی چه ناخبره یئ .
نوولې مونږ خویارانه ددې لپاره سره کوله چه په غمونږ
دردونو ، بدبختیو او نیکمرغیو کښې له یوبل سره شریک
واوسو ، هغه خویارانه نه ده ، چه یار د یار په درد
کښې درد من نه وي.
هغه راته وویل :
عصمت جانه : زه پوهیږم چه که ته همالته وای
نو حتماً به زما په مصیبتونو کښې شریک شوے وای ،
خو پریږده یئ ! چه پرما تیرشوي نوهغه بس
ده ، تا ولې کړوم !
ماژر ورته وویل : نه ! حتماً به ماته داتو کلونږ
دژوند کیسه ټکي په ټکي کوې ! نه دې پریږدم .
هغه دچایو یو تریخ غړوپ له چنغړک څخه تیر کړ
اوبیا یئ په نارامه لهجه راته وویل :
عصمت جانه ! ځله ځان کړوې !
چه پرما تیرشوي نو هم بس ده ، تا ولې ځوروم ،
اوداکیسه په اوږدلو نه ارزي . ماورته وویل:

شمشاده ! هردول چه وي راته وايئ به !
هغه په ډېر کړېدلي انداز کښې زما خواته وکتل
اوبيايئ د چايو د پيالې نه يو کوټ خولې ته کړ.
عصمت جانه ! چه نه مې پريږدې نو وا وره :
چه د پوهنتون د آخر کال امتحانونه خلاص شول
نو زما تصميم داوُ چه له کابله راووځم او په کومه
جبهه کښې ټوپک واخلم . خو مجاهدينو له خوا
پرله پسې حالونه را تلوچه ته په سنګر کښې دومره
کارنشې کولاے لکه په کابل کښې .
زه هماغلته په کابل کښې پاتې شوم .
زه خوزه د ے چه يوځل ډېر شي بيا نو د
انسان عقل هم غلام کړي !
يوه شپه مجاهدينو يوڅه تبليغاتي پاڼې هم
بنارته راليږلې وې اوماته امر شوے ووچه په
بنار کښې ټې تيتې اوخورې کړم .
ما بنام مې د کاغذونو د خورولو کارپيل کړ - په
کوټه سنګې د کفرايجنټانو تر تعقيب لاندے ونيولم.
هماغلته د ځان ساتلو په خاطر ناڅاپه کورنۍ تلم

په کور کښې هیڅوک هم نه وُ . فقط یوه شل کلنه پښله راولاړه شوه چه ماته یې وکتل ووېرېده او ببرته په کوټه ننوته .

زه هم ووېرېدم ، ځان سره مې په زړه کښې وویل چه والله د کوم حکومتي ایجنټ پر کور دې پښه ورکړې ده !

له دوو دریو منټو وخت وروسته بیا هغه نجلۍ له کوټې راووته راته ویل یې : څوک یُ او د لټه څه کوې ؟

ما ورته وویل چه پولیسو پسې راخیستی یم ، ځای غواړم ! زما ددې خبرې په کولو سره د نجلۍ د تندي غوټې خلاصې شوې او کوټې ته یُې بوتلم. په کور کښې یې نه په یو او بر مخې ځای کښې وساتلم .

هغه یوساعت ساه ونیوله او بیائې د چایو پیاله پورته کړه ماورته وویل نوبیا !

نوبیا چه سهار ملایانو اذانونه کول ، هماغه نجلۍ راغله اوراته ویې ویل : مجاهده ! نورنو

د خطر احتمال د برلبز دے ورځه ، کوه د هغې
کوڅې په پای کښې کله کله د اغیارو ایجنټان ګشت
کوي ، پرهنه کوڅه مه ځه ! پردغه بله
کوڅه لاړ شه !

زه هم روان شوم .

ما په هماغه ورځ د دغې پېغلې پرایمان ، غیرت
او شهامت زړه بایلود ! څوځل مې بیا هغه پېغله
ولیده .

آخرمې د دې کیسې له جریان څخه مور خبره کړه .
عصمته ! د موراوپلار خوښ همدا یوه آرزو
وي چه په خپل ځوند کښې د بچو د ودنه وکړي
مورمې هماغه جنۍ زما په نامه کړه ! شپږمیاشتې
وروسته زمونږ واده وشو . دواده دوه درې
ورځې به نه وې تېرې چه یوه شپه ماخستن څوتنه
وسلهسان اود هغوے داخلي ایجنټان کورته راننوتل
دکور تلاشي ېې واخیسته ، زما په لاسوکښې
ېې هتکړه واچوله . موراوناوې مې چیغې کړې
ظالمانو دهغوي فریادونه د توپکو په ګولیو دتل لپاره

خاموشه کړل اوزه يې جيل ته بوتلم .
شمشاد بيا زما د شپږ کلنې لور ترانې خواته وکتل ،
په داسې حال کښې چه ستونې يې له ژړا ډک وو ،
راته ويې ويل :
عصمته ! هغه زما ناوې ، هم ترانه نومېده !!!



نیمگړی مینه

نازو ته پوه شوې ؟

زه مجبور یم آخرشه وکړم . ژوند دے لورې اوښکې لرې آخرما نه غوښتل چې داسې شم کاشکې کفارو همالته وژلاے وای ، زه ستا د مینې قدر کوم زه پوهیږم چې ستا سپېڅلې زړه زما لپاره د مینې څخه ډک دی ـ ته ناوې یې تا دلته د هرارمانونه راوړې دي .

زه پوهیږم چې ته غواړې زما د غریب ژوند په مسلطو ترکمیو کښې د شمعې په څېر د ځان په سیځلو سره د رڼا څېرې وغځوې خو کوره نازو .....

زه مجبور یم چه جواب درکړم ، زه ستا د ژوند ملګرے نشم جوړېدای زما دومره بخت نشته چه ستا اوربل زما په نوم خپور شي .

هغه وژړل په ستړکو یې د تورې لنګې شمله

د حجاب په څېر وغورولە په اوزدو اوزدوکامونو مخامخ د روُف اکا د شپشتو د مامتې پـه لور روان شو .

یو کال مخکښې کله چـه زرغون کندهـار لا زرغون ووُ ! یو کال مخکښې کله چه دلته د لمر ژړو طلا یئ ورانکو دارغنداب له شنې سینې څخه مچکې اخیستې اود ترنک آرامه سینه د سولې اوامن په غېږ د کندارپانو پولې او پښتې اوبول .

دلویئ ویالې په بنایسته کلي کښې د رشید کورونه له یوې غلجې پښلې نازو سره په ډونګ او ډونګ وشوه .

نازو د رشید مینه وه .

هغه چه به مابنام له کروندې ستړی کور ته ولاړ .

په جینکه او عاجزه خوله به یئ مورته وویل .

مورې مکړه ته زما د ژوند خیال نه ساتې - مکړه زه ستا حُوی نه یم . مورې ته دلته په کورکښې

خپله نزور نشې لیدلاے .
موربه یې په قهرشوه ، وکړه زمانه څومره بی حیا شوه ؟
ستا پلار هم ځوان وؤ ، خوزه یې په خپله خوله نه یم غوښتې .
یه خدایه ج ، څه بی حیا زمانه شوه دآخرې زمانې له نا کجاتو مروساتې درشید اومورېه یې هره ورځ مازدیګر داډول خبرے رد وبدل کیدلې آخر رشید مورته قناعت ورکړ او نارویې د ځان کړه .
دوې میاشتې وروسته درشید دواده تیاری شروع شوه ، مابنام لا لمر خپله سینه دغره په شندې نه وه لګولې چه رشید دنریارکښانو ؟!!! د دولت دامنیتی ارګانو له خوا د ضد انقلابی عنصر په نوم د سرپوزې لوی محبس ته تیل وهل شو .
د سرپوزې لوے محبس درشید په څېر د بر ارمان جن - ځلمي په خپله سره اوکړاوجنه غېزه کښې ساتلي وؤ .

هرو برځلميان !
چه مابنام به شرد تحقيق په لوی تالارکښې به د
برقي د ندرو نا ديده اوکم اصله وندره مارانو
دانسان په زجراوآزار اخته شول چه چابه ژر
اقرارنه کاوه د بدن تر تناسلي الې پورې به يې
د برينبنا تار وروتاوه اوبيا به يې برينبنا راأيله
کمه رشيد تينګ سړے ووُ .
کاکړان خوهسې هم په قندهارياتو کښې د يوه
ګای اويوې خبرے خلک دي چه خبره به يې
وکړه بيا نو که ميچن په سرورو کړځوې له خپلې
خبرې څخه به يې وانه ړوې .
رشيد هم کاکړ ووُ اوپه کاکړانو کښې هغه زهر
خورې کاکړ .
رشيد يووخت له ضدي ځلمرسره په شرط
مبخونه په پښو کښې تګ وهلي ووُ .
دی د خپلې منطقې په ځوانانو کښې د کندهارياتو
په اصطلاح خورا نامي باز ووُ .
يوه ورځ يې په خپلو لاسواته غټې غټې سکروټې

ایرې کړې وې . نواوس به برقونه اوشکنجې څنګه وس پیدا کړي چه په پولادي رشید اقرار وکړي .

چه مستنطق به هرځومره ورته سوراوشین شوچه وایه رشیده په انقلابي ضد فعالیتونو کښې سنا د تنظیمولو کار د چاپه لاس دی .

د رشید به ورته یوه خبره وه . د هیچا پرغاړه هم نه ده .

آخر د ندیه ماران بیچارګان عاجزه شول ، د تیلفون برق یې تر بلاکي پورې ورغوټه کړ برق یې پرې ورایله کړ شپږ اوه جټکی یې ورکړې رشید چه څوځله لټ پرلټ واوښت آخریې ضعف وکړ پریوت .

د ندیه مارانو د ضعف په حالت کښې هم پرې نښوده . یو څو جټکی یې نورې ورکړې ، رشید چې ضعف شواو .....

او بیا

هغه شو..... شو .

هغه دجنسي تکثر اله په محبس کښې له لاسه ورکړه . د ۱۳۵۸ کال د جدي "۱۲" د ولسمه ورځ ده . د روسي پوځي يرغل اړ ودورېدے.

د ماسکو د فرمايشی عفوې په جريان کښې رشيد هم له محبسه راخلاص شو ، نازو د رشيد د بندي کېدو په ورځ ديوې ارمانجنې ناوې په جامو کښې ددوي کورته راغلې وه . اونن مابنام چې دروازه خلاصه شوه رشيد په کوټه نښوت پر نازو يې ستړکې ولګېدې خوله يې واز وښيوه آخريې شوندان په دې خبرو پرانيستل . چکوره نازو زه مجبور يم داراز درته ووايم زه ستا د ژوند ملګرے نشم جوړېدای . زه ستا د ژوند په تيارو کښې د ربنا څېرې کې نشم غځولاے زما د ومره بخت نشته چې ستا اوربل زما په نوم خپور شي.

د هغه آواز په ژړا کښې ونغښتل شو پر ستړکو يې د لنګه شمله د حجاب په څېر وغوړوله او مخامخ د رؤف اکا د شپشتو د مامتې په لور روان شو.

مرګی خوښه دی پرده پوښ دی

غلام شاه اکا اوښبنې کوله ! ده ته د دفتانو د بدوي اوکړچي کلي اوښبنې پاچاهي وه . ده به ويل : چه د د فتانو اوښبنې نړه وي په دنیاکښې چرت نه وهم ، دانه وایم ، چه دنیا دغوایئ پرځو بنکړو ولاړه ده اوپاچا دوې وړې لري ، که نه ؟ دکال مې پرنوره کتبه برسېره خلورجونګیان اوخلورا اوښې کتبه راووځې - کتبم ېئ خورم ېئ څښم ېئ - زېنکیان مې په مړه ماړه ، په جامه پټ او تر ستړګو لاندې دي کوروالا مې هم هوسا او په زړه روغه ده . د پخوانو ترخوله مې وکړځوې ، څه ښه ېئ ویلي دي : « مړي غوندې ېئ وکتبه - ساهوغوندې ېئ وخټبه » خدای ج ، دې د خپلولا سواو پښو غم نه راکوي یاړه روغ صورت هم د اکبر پاچا پاچاهي ده . چه روغ صورت وي خواږي څه شی ده ؟ کوردې دنا روغه اوناجوړه

وران شي ، که ناجوړه شوې ، نوبې لاسواوبې پښو شوې ، چه بې لاسواوبې پښو شوې نو بې کټې اوبې وټې شوې ، چه بې کټې اوبې وټې شوې نو خوار اکرب درځغه جوړ شو، مسکين شوې ، تردې حال نومړک ښه دی .

غلام شاه اوښښه به دا مسړه په ډېرخواږه آواز زمزمه کوله :

مړکۍ خوښه دی پرده پوښ دی
بده نیسي ده غیرتونه شرموینه

غلام شاه اکا به ډېر متلونه تپرول - له هرې خبرې سره به ئې یو مسړه اویو متل ملګرے وو. ده جګه چناري ونه درلوده ، اندامونه ئې لکه د نورو افغانانو قوی اوښکلي وو ، لنډه شناوړه زیره به ئې کله کله په نکړیزو سره کوله ، ګرد دچوپ کمیس به ئې اغوستی وو ، د سره بادامي رومال پیشکه به ئې دواسکټ په منځنۍ تنۍ پورې تړلې وه او روی مال به ئې په کین جیب کښې اچولی وو. پیچلی چنګکي بریتونه ئې پریښي وو له لورې پوزې سره ئې

دمغ کاسه هم پراخه وه ، چه دده دوجود ښکلا
یئ لا پسې جذابه کړے وه .

دغلام شاه اوښښه همځولو ټولو اعتراف کاوه
چه دغلام شاه په څېر ځوانې په مونږ کښې
هیڅا هم نه ده تېره کړې . ده په ځوانۍ کښې
مدارخان ډولچي دډاله په وهلو بې سیکه کړے وؤ
خو غلام شاه بنده په اتڼ کښې نه وؤبې سیکه شوے
. مدارخان ډولچي نو هم مدارخان ډولچي وؤ .
هسې دخبرو مدارخان نه وؤ - چا ئې له ډاله
سره اوزه نه شوائے برابرولائے ، اوه اته ساعته
به یئ پرله پسې داسې ډول واهه چه خلکو
به ګوته په خوله ورته نیولې وه کله کله خو به
داسې وشول ، چه دډاله پر میدان به یئ دوه
درې ډولونه مات کړل ، خو دمتو سیکه به یئ
لا نه وه ختلې .

غلام شاه اکا به هم کله کله د خپلې ځوانۍ
کیسې کولې دده ځوانۍ مشهوره وه . دده په
اوسنیو ځوانانو هیڅ ستړکه نه ډکیده ، ده به وئیل:

چه هغه چاته ځوان مه وایاست چه پردسترخوان
ووایئ زه مور شرم اویاد کارپه میدان کښې
ووایئ ، چه زه خرستړے شوم ، ځوان هغه دے
چه نه په مړه مریزي اونه په کار ستړے کیزي .

غلام شاه اکاکیسه کوله - ده ویل :مازیګر
مې اوښان د بیابان ځوځانوته ورړهي کړل ، د
مازدیګر له کډو څخه مې د چینې ډول واوریده
چه ورنژدې شوم ، مستوخان اکا د کارتوسو بند
ترلې وؤ ویل یئ چه مقرته د سقاویانو پلتن
راورسیدلی دے - مالونه چوروي په هرځه
نا تار کډوي ، مخې ته به یئ ورځو چه پرشا
یئ وتمبوو ، مستوخان په ملاکروپ سپین زیرے
وو ، ماته هم غیرت ودرید . له ځان سره مې وویل
چه مستوخان هم یئ ، نو غلام شاه بنده تا ته
خوشرم دے ، چه ولاړ نشې .

نن مې دکوندې خال لیدلی

پښلې دې خواږې شې چه نه به زدې خالونه
چه مستوخان بند غاړې ته اچولی دی ، نوغلام شاه

بنده ته خړګوان یې ، ته خوبه یې له ضرور څخه ضرور اچوې .

د سلیمانخېلو اوتومخو پلتن تیاروو د سهار خواته زمونږ پلتن هم تیار شو . مونږ د "فتانو" اوخروتو یو لښکر جوړکړ ، سپینه داغ لانه وو یو بوږی توپک ، څلویښت کتې کارتوس شپیته پتیرې مې راسره واخیستې خام څابنت وو چې پر سقا ویانو وروخاتو ناتار موږې جوړکړ په یوه سامولې "مقره" تر "شښکاوه" داسې وغلول چې شاته یې نه دي کتلي . چې له جګړې راوګرځیدم دامې نه دي ویلي چې ستړیا اوستومانې څنګه ده ؟ په کېلان کښې د علي خېلو واده وو - دواده مړې مې پرېښوده داتې په میدان ورچل شوم . پوره څلورساعته مې وړاله ته څنډې وغورځولې . بیا مې مړې ته کوندې ماتر کړه - یوه دلرکې غټه کاسه لمده مړې یې راتر کښوده - وارمې نه دے ورکړې تولې مې وخوړې یوه مچ پتیره ورسره ووهله لامړ نه وم چې له علي خېلو راړهې شوم له "شوباو"

مې د توخيو يو ټپي راپه شاکړ ، په يوه سامې
" ټرنګ " ته راورساوه . په دې وخت کښې نه لغړ
زلمې زنګې ووم ، زنه مې لغړه وه خويواځې
ماټې مې ليز ليز تورې وې.

غلام شاه کاکاجي به اوس خپلې شناوې زيږې
ته وکتل يو سور اسويلی به يې وکښې - په ځوانۍ به
يې ارمان ورغې آواز به يې پورته کړ.

هيڅ مې نه هيريږي زمامستې - بنايستې ځوانۍ
څه سوې چيرته يې ځوانۍ ؟؟ څه سوې ...؟؟
دی که څه هم د شغل په لحاظ ټول عمراوښه
پاتې شوې ووُ ، خود سپنو په څيرې له
شپېلۍ اونل سره تور ويښته سپين کړي ووُ.
کله چه به يې په نل کښې پوکړل ، داسې نغمه
به يې په کښې تاو کړه ، چه د طبيعت بنايسته به
هم ورسره په ټغا شو.

غلام شاه اوس تقريباً د خپل ژوند شپېته
اويا کاله شاته پرې اينبې ووُ خو سپين زيږې لا
نه ووُ - هيڅوا هم فکر نه کاوه ، چه د غه اوښه

به اوس تر پنځوسو کلو زیات عمرلري .

نن ما پس له اتو کالو غلام شاه اوښبه دلورالایئ د ژپړ کاربز په کمپ کښې ولید ، چه سترګې یئ را باندې ولګیدې ، دلیمرله چینو څخه یئ اوښکې هم را خلاصې شوې - په ریږدیدلي اوژړغونې آواز یئ خوله خلاصه کړه : « پلاه بچیه! لاس مې هم نشته چه په غیږ کښې دې تینګ کړم او دا نارکل مینه درباندې وکړم . غلام شاه اکا به په کلي کښې ماته پلار بچوویل . ده په ټول کلي کښې نه په « پلار » مشهور کړے روم . ما چه د بوډا اوښبه په وجود کښې سترګې بنځې کړې د هغه غبرګ لاسونه نه وو ، لندۍ کوندۍ بنایئسته زیږولې له زنې سره یوځای د مخ په ویښو اوپراخه کاسه کښې نه معلومیده ، پر بار خوکانو یئ غټ غټ داغونه جوړ شوي وو - غټ غټ غښتلی وجود یئ یواځې اسکلیټ پاتې شوے وو . چپ زنګون یئ تر وړانه پورې له چنارې لوړ بدن څخه پرې شوی وو ، هغه غلام شاه چه یوه ورځ به یئ

ترقـــدمولاندې د د بنستونو ځوځان ماله کېدل ، اوس شل اوشوت پریوه خیراتي کنځ (برستن) پروت وو ، دبې وسې اونیستې تورے بلا داسې ګونډه کړے وو ، چه غیرت یې هم ځني ورک کړے وو ماته دغلام شاه هنه مسرې بیا رایاده شوه چه :

مرګی خوښه دے پرده پوښ دی
بده نیستي ده غیرتونه شرمونه

غلام شاه اوښبه کیسه راته شروع کړه :

پلاو بچو ! ته به وایې ، چه په غلام شاه اوښبه به څه شوي وي ، چه لاسونه اوپښې یې نشته اوشل-شوت د پردو پر خیراتي کنځ د سوال کچکول ته پروت دے ؟ غوږ ونیسه! تېر مانرینګر وو ، لمرلا دغره شاته نه ووغوټه شوے ، داوښانو ګله مې د "مشیزو" اغزنې کروندې ته وردهي کړه - ما پرکاربزاودس تاره کاوه - له جبهې څخه دمجاهدینو حال راغې، چه زوی دې نن بمبارۍ سخت زخمي کړیدے - که

ناست یئ راولاړشه اوکه ولاړیئ
راروان شه ، اودس مې نیم کړے ووا ونیم لا
راته پاتې وو - اودس مې پرېښوده ، سیده
مې د جبهې لاړه مخ کښې وښوه چه جبهې ته
ورسېدم ، هیڅوک هم نه وو . دغره شاته د-
مجاهدینو او کفارو جنګ په خپرسا خروس
روان وؤ. چاراته وویل چه نړۍ دې له یو
شل کسیز کروپ سره د کمپ قبلې خواته په مورچلو
کښې شهید شو ، کمپ هم تر دې پورې د
روسانو په لاس کښے ووؤ آخرد "کاکړانو" مجاهدین
راورسېدل اوروسان یئ په غره واړول. وګوره
دا اوس هم غزا روانه ده . زما پر ستړګو نوره
تیاره شوه ، سرمې لکه د ژرندې پل را باندے
وګرځېد - له خواشینۍ مې لوبه کړیکه تر خوله
وخته د نړۍ تلاش مې شروع کړ.
غلام اکا حوصله له لاسه ورکړه ، ویې ژړل
اوپه ژړه غوڼې آواز یئ خپلو خبرونه ادامه
ورکړه : - آخرمې هغه پیدا کړ. افاړکل شهید

شوی وُ . د یوه کمره خواته پروت وُ ، تورې څنې یې په وینو کښې لمدې پرتې وې تر سرې د پرې وینې تللې وې ، سترګې یې نیم کښه وې ، مغ یې په خپله دقبلې په لور سم کړے وو. شخ شخ برېښونه یې هم په شوندانو راځوړند شوي وو. زه بېتابه شوم پرانارکل وروغورځېدم ، کافرانو د هغه په بې سابدن پورې بم تړلی وو، بم وچاودېد اوزه یې هم په څوند پورې حیران کړم ، بې لاسواو بې پښو پې کړم . د خدائے ج ، قربان شم سختې یې یوتربل بدترې دي ، کاشکې زه هم له انارکل سره تللی وای.

ده په څېرغونې آواز یوځل بیا دا مسرې په نسبتاً خاموشه لهجه راته وویله :

مرګی خوښه دی پرده پوښې دے
بله نیستي ده غیرتونه شرمونه!

خاطره

سبز کال کندهار د پخوا په څیر د جنګ داور دلمبر سور تنور وو ، چې غرمه به تېره شوه ، د توپکو ، ماشین ګنو ، توپو او بمونو خولې به وازې شوې اوبیا به تر صادقه سهاره پورې نه چوپېدلې .

له پاسه به په جوالو جوالو بارودت اوکیمیاوي مواد چې زمونږ د نړۍ معاصر جهالت د مرګ په ډبرو پر مختللو ابزارو بدل کړی وو ، د کندهار د تاکستانونو پر شنو میدانونو راپرېوتل .

دا وروسنو اودو دونو شنې لرخړې به ډک شنه آسمان په لور پورته کړې .

شین اوزرغون کندهار چې ترجنګ د مخه ګلونو به ډک د کوډکر او جادوګر طبیعت ساحرې نندارې وړاندې کولې او اوس یې یوه سوځوونکې جهنم بدل شوی وؤ . هره خوا توري کندوالې ،

سوځول شوې کورونه ، لوټ شوي بازارونه ،
زېږ ز بېښلي چمنونه چې د جنګ دوړو ټې شسنه
خوله ، له غوږي توله ، ګړې وه له نظره تېرېدل .

غلام اکا چې اصل نوم يې غلام محمد وو
يوا ويا کاله پخوا د همدغه کندهار د سرپرزې په
منطقه کښې زېږېدلی وو . د غلام کاکا په قول دده
د زېږون زمانه هم د هېواد له لمنې څخه د شين
ستر ګو مهاجمينو او کفارو د شړلو زمانه وه .

د غلام کاکا د هغه وخت غږ ګانې نه وې
په ياد ، خو دومره ضرور ورته معلومه وه چې پلار
دوه ورونه اودرې کاکاګان يې د بولدک په
محاذ کښې د شين ستر ګو مهاجمينو او کفارو په
ضد هم غازيان شوي وؤ اوهم شهيدان شوي .

غلام کاکا د مور له خولې کيسه کوله چې زه به
هغه وخت کښې وم د دوو درېو کلونو - مور فقيرې
مې راته وئيل چې تازه تازه مې له غيږې پرې کړے
وې چې د غزا ګال شروع شو .
مورمې وئيل چې غزا د ملايانو صاحبانو په امر

چه دا امریئ هم د خدائے تعالیٰ د کتابه را خیستی وو ، پر ټولو نرانو او زنانو فرض شوی وه ، په ځان اومال سره اوپه هرشي سره .

ملا یانو صاحبانو جاري کړامرد شریعت محمدي اوشروع شوه غزا په ټول کندهار کښې اوپه ټول افغانستان کښې .

مورفقیري مې ویل چه زهونږ د کور غټان چه پورته کولائے سواى ټوپک اوراغور ځولائے ئې سوائے کافرا وملحد او ظالم اوفرنګی ولاړل وغزاته ، اوشهیدان شول پروطن اوس ئې هم قبرونه شته چه شناختې ئې د هغه وخت له کیسو ، عبرتونو اوسربښندنو څخه یاد کاري کوي .

غلام اکا لږ څه خپلې عمر خوړلې اونږې سره و څنډلې پر سپینه زیره ئې لاس را تیر کړ اوبیائ د سپین پاچ اوزده شمله شاته ووهله ، لکه ئې د مبرند په لوړونیوله ، په

داسې حال کښې چه د میرند لوئ هدیرې
ته یې اشاره کوله ، یوسوے اسویلی یې
وکښې اوویې ویل :

کوره بچیه ! په هغه لویه هدیره کښې د ډیر
غازیان او شهیدان ښخ دي ، د غو غازیانو
خپل خوازه ځانونه فقط د دې لپاره قربان کړیدي
چه دالله تعالیٰ ج، ترحکم لاندے مونږ ژوند
وکړو ، ناموس اوعزت مولد کافرانواوشیطانانو
څخه په امان وي.

دا خاوره د خدائے تعالیٰ خاوره ده - دلته د
د خدائ بندګان د خدای پاک امرمني نه دبل
چا . غلام کاکا وئیل چه که انشا ایمان
ونلري هغه بیا آزادی ته هم ضرورت نلري.
مونږ د دې لپاره خپله ازادي غواړو چه ایمان
لرو . اصل خو همدا ایمان دے چه مونږ ته
د آزادی درس راکوي ، د بې ایمانو په آزادی
څه ؟

غلام کاکا د جهاد له پیل څخه تراوسه پورې

جهاد نه دے پرښي . ده ځان ته د مجاهد زاده ، نوم غوره کړے وؤ .

د منطقې د نورو سپين زېرو په قول ، دده پلار سيد محمد غازي د کشکې ځرد د لښکر مشر وؤ او په جنګ کښې يې مېرانه کړے وه اوس يې هم قبر د غازي سيّد په نوم شته اوږد شناخټې جنډه يې د غزا او جهاد ښيرۍ ده چې ځنې ښېريزي کافران اوملحدان ، او سرچينه ده د کرامت . د قبر خورده يې بې زړه خلک په ښه رتوب راولي .

مجاهدين اوس هم چې کله د بولدک لارې د هرايې ميدان پر سرعمليات کوي د سيّد بابا قبرته حاضرېږي اوهلته د خدائ ځخه په دعا کښې نصرت غواړي .

غلام کاکا کيسه کوله ويل يې چه نورمحمد کافر ، (نورمحمد تره کی) د بخارا د شين ستړکو — قاتلانو جاسوس پاچاګردي شروع کړه ، په کندهار کښې غزا نه وه ، زه لاهم ارغستان ته

او هلته مې جهاد شروع کړ ، تر اوسه پورې
مې غزا نه ده پریښې ، کله چې په کندهار کښې
غزا شروع شي خپل خلور ځوانان زامن مې
له کوره راویستل په محله جات کښې مې ستړکې
په رنجور رتوږ کړمه ، تریکونه مې وړیه
اوږه کړل ، داوبو پټکي مې تر ملا وروتړل او
بیا مې اودس تازه کړ او خلور رکعته نفل لمونځ
مې وکړ مخ په قبله مې خدای تعالیٰ ته
سجده وکړه ، ما ویل ای پروردګاره ! زه ستا
ګنهګار بنده یم ، تا پرما رحم وکړه زه ښه د
ابراهیم خلیل الله سنّت پرځای کوم ، خپل
خلور زامن ستاد رضا په نوم د اسماعیل
ذبیح الله په څیر قربانی کوم ، خدایه! زما
دغه قربانی قبوله او منظوره ونګرځوې.
خدایه ! زما په نیت کښې نور هم اخلاص پیدا
کړې . د غلام اکا ستړکي له اوښکو پکې شوې.
د غټ کندهاري واسکټ څخه یې یوسر
بادام ګلی دستمال راوکښې او خپلو اوښلو سترګو

ته ونیو .

هغه ښه ساعت چوپ وو. بیائې له جیبه د توږو نسوارو ډک کډو[1] راوویست، دورغوي په منځ کښې یې لږ څه تور نسوار په ډېره خاصه طریقه واچول او دوو کوتو په منځ کښې یې لږ نسوار پورته کړل، دیزې په ښې سزمه کښې یې و سونبل چه کډو ته یې وکتل - احساسات یې زیږه شول لکه چه کومه خاطره ورته یاده شوې وي.

هغه ته د کډو په لیدلو دیوه مجاهد خاطره وریاده شوې وه . د غلام کاکا په جیب کښې سور کډو ، هغه ته له نن څخه اووه کاله وړاندے ملا راکېښې اخوند په دې خاطر ورکړے وو ، چه له شهادت څخه وروسته به ماد همدې کډو په لیدو سره یادوې د کډو پرشاه دا بیت لیکل شوے وو.

دوصال ډیره به مړه وي نه به خاورې
دا په یاد د محبت د رسره واخله

۱- کډود نسوارو یو مخصوص ډبلۍ ده چه نهونږ سپین زیږي تور نسوار پکښې اچوي.

ماتړ دهغه څخه د ملا راکیټ اخوند پوښتنه وکړه:
کاکا ملا راکیټ اخوند څوک وو؟ کاکا په ډېر
ویاړلي لهجه په خبرو پیل وکړ: ولې هغه نه
پیژنې؟ ملا راکیټ اخوند د کافرانو اوږه سانې
د تا نکونو په سرتندر وو.

اول ځل په برتلانې تا نکونه سوځول، اول
ځل یې د خرڅې شریفې تر مخه د کفارو دوه
تا نکونه په برتل وسوځول، بیا یې په سرپوزه
کښې دریم تا نکونه وسوځول، بیا یې د کابل
دروازې د ګزمې تا نکونه وسوځول، او بیا چې
راکټ پیدا شو نو د خدائ نصرت چې وې هر
مشکل آسانیزی، سبب راکټ شو او مل د خدائ
نصرت ملا راکټ څلورشلې (۸۰) تا نکونه وسوځول.

کاکا ملا راکټ اوس هم شته؟

نه هغه د خدائ د محبت لائق شو، هغه زما
له څلورو کلا له بچو سره یوځای شهید شو هغه به
اوس د حورو اوغلمانو په منځ کښې ګرځي، پر
هغو د خدای (ج) رحمت ووریده. کاکا تر څلورو

شهیدانو پلارئ ؟ ج

هوا دا هم د خدائ رحمت دی ، د خدائ لوریته ده ، نه ګنهګارئ هم د ځلږد

شهیدانو پلار کهه یم

غلام آکا تلوار اوبیړه کوله ویل ئ چه ځم محلهٔ جات ته ، هلته به ېر مجاهدین سړ را ټول شوي دي که مې نور وس اوسیکه نشته پر شهیدانو خوبه ئ دیا سین شریف تلاوت وکړم .

کاکا له ما څخه رخصت واخیست ، تررخصت کیدو مخکې ما ورته وویل : غازي کاکا ! زه ستا له مجلس څخه سخت خوشحاله شوم ، له تا سره قول کوم چه ستا د کارنامو اوزد داستان به د شروند د اغزنې لارې سرمشق کړځوم . ته به هیڅېرې هم زما هېر نشې . د غلام کاکا په شوند و هم د خوشحالۍ مسکا خوره شوه . په خندا شو .

هغه پرښتنه را څخه وکړه ! نو که هېرد ې شوم ؟

ما ورته وویل نه مې هیرېږي ، زه دا تسبې د
ښپې په توکه د سهره واخله که دې هیر
شوم پرې یادوې به مې ښه ده .
ما ورته وویل هوا ښه ده
ما تسبې را واخیستلې اوراروان شوم .
کال تېرشو ، یوځل بیا پسرلی راورسید
کندهار لا هماغسې سړکوار وؤ - پرټول ښار
داوږدو نو اوبمونږ باران وؤ . دشمنو تاکستانونو
له لمنو څخه هماغسې تورلوګې پورته کېدل .
مجاهدین سبزکال د کندهار په ځنډ ویشتو
محاذونو کښې دانګریزانو له تربورانو شین سترګو
مردسانو سره غزا درلوده .
سبزکال جبهې ته درسېدو سره سم د غلام کاکا
دوي ځای ته حاضرشوم غلام کاکا نه وؤ .
اوس نږدهغه په قبرد چنار یوه لرهه شناخته
ولاړ وه .
هوکې !
غلام کاکا شهید شوے ور . د مجاهد نړۍ مجاهد

دلارې په سفر کښې خپل تاکلي مرام ته رسېدلی وو.

ما هماغه تسپې له جیبه راوویستې اربیامې پر غوږو کښې پر ډبلیې باندې لیکل شوی بیت ترمنرې انګازه شروع کړه.

دا بیت چه:

د وصال ویره به مړه وي زه به خاورې
دا په یاد د محبت د رسره وا خلـه!

به تاریخ ۱۳۶۷/۶/۳۰ به قلم سید محمد صدیق «بنوري» خطاطی شد.

که زه ځلمی شوم

زه ماشوم ووم ، زما کمکی زړه له انساني عطوفت اوخوږې مینې څخه ډک ووما نفرت نه پټړانده .

زه ماشوم ووم ، ما په خپل کمکي زړه کښې دخپل ځیلي اوکوتلي ټولنې لپاره د برېښکین اولونګین ارمانونه ساتلي ووُ .

زما جهان د بنکلا او رنګینو جهان وو ، زما ماحول ټول بنایسته وو . زما چاپېریال د بدرېغه باغ ارم وو ، ما د خپلو ځیلو اوکوتلو هېوادوالو د پاره د ډېرو بنو هیلو په لرلو سره د ځلمیتوب په ارمان دوړوکتوب نازنینې شیبې د ماضي کړه شونوته سپارلې اود ځلمي سباوون په هیله د بنکلواو بنایسته آزهرګانو سره مشغولا د رلوده ما د خپل ویرجن تاتوب د مظلوم انسان د زړه بوږ نوونکي

حالت د بدلون د پاره د پرے هیلې او آرزوګانې
د رلودې .

زما د خوار او ورو سته پاتې هېواد د
کفر او استعمار د پرله پسې یرغلونو په وجه
دانسان لپاره په یوه سوځونکې جهنم بدل شوے
ووُ . ما په خپل مظلوم چاپیریال کښې هره ورځ
د زهرهاو بې وزلو انسانانو زړه لرزوونکی کوکې
اوچیغې اوریدې ما به هره ورځ په خپل مظلوم
ماحول کښې په زهرهاو لوڅ لپر انسانان لیدل
زما د هیواد انسان مظلوم وو ـ زه د مظلوم چاپیریال
ظلم ځپلی محصول وم .

ما ویل که زه ځلمی شوم نو په خپل ځوان
ځواک به له خپل چم اوکاوند څخه د ظلم او
استبداد تور تغر په ټولیدو کړم اوله خپلو ځوانو
متهو څخه به د مظلوم انسان د خوشحالۍ په خاطر
د کار اوزمایر په ډکر کښې خولې تویوم .

هو ـ زما په کمکې زړه کښې دا ارمان هم
ځای د رلود چه د یو ځوان جیالوجست په توګه

په د خپلو دنګو غږونو د طبیعي غنا څخه ډک
لړمون د وطن د سمسورتیا په خاطر څېړم ما
ویل زما ځلمیتوب به زما د هېواد د مظلوم انسان
د نیکمرغۍ د مقدّس هدف په لاره کښې له رنګارنګ
سره امتزاج مومي بنکلا او حُسن ته به زما
په بنکلي هېواد کښې تلاوم او بقاء ورکوي .

خواوس .

زما دا رهانونو نازنینه دنیاګې تالاوالاده . اوس
زما د رنګینوا ولونکینو ارمانونو په پسرلي د
خزان سړې سیلۍ راالوتي دي .
د سړو یرغلګرو خونړی یرغل زما بنکلي ارمانونه
زما د مظلومو هېواد والوپه وینو ولمبول . دا توم
د عصر مسلکي اوجاني بشر وژونکو زما
هېواد د ناپالم په تنور تبدیل کړ ، زه اوس
ځلمی یم ، ددې پرځای چه د خپل هېواد د
سمسورتیا د پاره د کار په ډګر کښې خولې توږې
کړم ، د جنګ په ډګر کښې وینې تویوم .
زما له متو څخه اوس د خولو پرځای وینې

څخیزی ، زه اوس یو ځوان جیالوجست
نه یم زه دغرونو صخرې څیروم خود هېواد
د دفاع سنګر ترې جوړوم ، زه اوس
مجاهد یم ، زما په لاس کښې اوس دکار د
ابزارو په ځای وسله ده .
نوای مسلکیې حرفه ئي بد ماشانز !
ای د سولې او استقلال د رڼو ښځنو مدعیانز !
ای د ویرلرلې بشریت د آزادښوند دښمنانو!
زما د مظلومو آرمانونو د نیاګې مو ولې ورانه کړه ؟
زما مظلوم ارمانونه مو څله زما د هېواد والو په
وینو ولمبول .
زما هېواد مو ولې دباروتو په تنور بدل کړ ؟
ولې ؟
سوله داسې وي - دوستي داسې وي ؟



زمونږ شعار

دخدای تعالی رضا زمونږ هدف

رسول الله صلی الله علیه وسلم زمونږ رهبر

قرآن شریف زمونږ قانون

جهاد زمونږ لاره

اودخدای په لاره کی شهادت

زمونږ داوچتو هیلو او آرزو گانو

څخه دی.

دافغانستان اسلامی جمعیت

دلیکوالو او وینا والوتهولنه